


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پيژند پاڼه

نوم:روڼ سيند
 ليکوال، شاعر:محمودحميدزی
کمپوزر:محمودحميدزی
دقلمي ليکنې نيټه:۱۳۹۳ـ ۱۳۹۴ـ ۱۳۹۵ ـ۱۳۹۶ـ ۱۳۹۷ـ ۱۳۹۸
۱۳۹۹هجري لمريزکالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

په ډېره مینه داکتاب خپل لراوبر پښتنو ورنوته ډالۍ کوم،
هیله لرم زما ډالۍ راڅخه زما غیورقام قبوله کړې!
دهغې ورځې دراتلو په هیله شیبې شمارم : کوم ورځ چې
زموږ ترمنځ د ډیورنډ کرغیړنه کرښه نه وي اوموږ پښتانه
پریؤه ټغر سره راغونډیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دشاعرخبرې

دالله جل جلاله په ستراو سپيڅلي نامه.درودونه اوسلامونه دې دمؤمنانو پرجانان،دښکلوپرښکلي حضرت محمد مصطی صلی الله عليه وسلم باندي وي.

پښتوژبه دخپل تاريخ په اوږدوکې وياړلي اونومورړي اديبان لري.
دپښتو ژبې ادب يوبډايه ادب دی،چې دمنظومو اومنثرو اثارو پکښي کمی نسته،خولا هم پښتو ژبه ډېر کارته اړتيالري ترڅو په پوره ډول يوه بډايه ژبه سي، همدې موخې ته درسيدا په پار ډېر پښتانه وګړي شپه او ورځ کارکوي اودخپلې خوږې ژبې لپاره نظم او نثرليکي .

زه د ادب پالو وګړو ددې هڅوڅخه ديوپښتون وګړي په حيث ډېره مننه کوم، هيله ده زموږ ښکلي ژبه نوره هم ددوی دزيار لکبله بډايه سي.

ما هم دخپلې خوږې ژبې پښتو سره دمينې لکبله قلم يوازي ندی پريښی،ليک پرې کوم،نثرليکم نظم پسي دخيال په بيړۍ کې دالهام په سمندر کې لټون کوم،کله کله يې په نيمګړي بدن وموندم او زخمي زخمي يې درساحله راورسوم.

زه ځان ته شاعرنه وايم:دشاعر مقام بلها لوی مقام دی! زما دخپلې خوږې ژبې سره مينه ده او دا مينه وه چې زه يې دې ته اړ کړم چې شعر،نظم وليکم او داټولګه چې زما دنظمونو،شعرونو لومړۍ ټولګه ده،ستاسودرنو ترلاسونو پور يې در ورسوم ترڅو زما آندونه تاسوته بربنډ ،که شونې وي ورڅخه ګټه پورته کړئ او خپله ادبي تنده په ماته کړئ.زه دالله جل جلاله شکر اداکوم چې زه يې په خپل دې مهربانۍ ونازولم!زما شعرونه کيدای سي ډېرنيمګړتيا وي ولري اوزه ستاسوڅخه په ډېر درناوي هيله کوم چې زما درنيمګړتياو ماته راتېر اوبخښه راته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

زما شعرونه،نظمونه زما مفکوري(آندونه) ،غوښتنې، هیلې،مینه،کرکه ...ستاسودرنو لوستونکو مخته ږدي.
ماپه خپلوشعرنو،نظمونو کې یوازې اویوازي داسلام،هیواد،پښتوژبې اړوند یادونې کړي دي اوخپل په آندمې هڅه نه ده کړی ترڅو ویونکی کږې اودزیان څخه پرډکې لارې تګ کولوته وهڅوم، هیله ده تاسو زما په شعر کې بې حیایي،فحشا او ناروا مستي مه لټوئ ،زما په کمزوري شعر کې آند کوونکي واوسئ اودسپېڅلو ورسته داسلامي احکامو اوپښتنې کلتور مخالفه که خدای جل جلاله مکړه کومه لارښوونه سوې وې عمل مه پرې کوئ.
الله جل جلاله ته لاسونه لپه کوم چې زما درهغو خطاوو (تیروتنو)دې راتېرسي کوم چې زه نه یم پوهیدلی اوما وګړې بدې او دزیان څخه ډکې لارې ته رابللي وي. زه داټولې هیلې دخپل غرور لکبله ستاسو درنوڅخه نه کوم اونه هم دا وایم چې هرومرو به زما په شعرکې ګټورڅه شتون ولري:بلکې زه دخپل هغه ګناه اوزیان څخه ډارکوم کوم چې خدای جل جلاله مکړه زما دشعرونو لکبله به ما اویا هم لوستونکي ته رسیږي.
زما یوبله هیله دخپلوشعرونو اړوند داده چې زه هیله کوم چې زما شعردي هیڅ وخت هم کوم لوستونکی،ویو نکی دموسیقۍ دآلاتوسره نه زمزمه کوي،زه نه غواړم کوم کس زما شعر دموسیقۍ دآلوسره زمزمه یا ووایي، زه هیڅ کوم چاته دا اجازه نه ورکوم چې زما ناچیزه شعرونه دموسیقۍ دآلوسره په هیڅ صورت اوهیڅ وخت کې ولولې.زما داهیله هم زما دغرور لکبله نه ده!
زه هیله لرم ما حقیر په خپلو دعګانوکې هیر نکړئ.
په درنښت ستاسوورور:محمودحمیدزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعا

ستا خلقتونه بي شماردي ربه
ستا صفتونه بي شماردي ربه

دقاینا تو درازو مالکه
ستا حکمتونه بي شماردي ربه

دعالمونويی پالوونکی الله (ج)
درزق سمتونه دي بی شماردي ربه

زه حقیرخواست کومه تاته مولا
زماخواستونه بي شماردي ربه

زمادهیوادخخه اورونه مړه کړې
زموږ زحمتونه بي شماردي ربه

حمیدزی داهیوادسمسورغواړمه
ستا رحمتونه بي شماردي ربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستاترنامه مي ژوندزار

دسپوږمۍ اولمرنه ښکلی محمد(ص)دی
په دارینوکې ښاغلی محمد(ص)دی

دانړۍ یې په راتلوسول معطره
پاس هسکو ته ورختلی محمد(ص)دی

مؤمنان یې په نامه باندي نازیږي
انس ؤجنس واړومنلی محمد(ص)دی

جهل لاړونیست نابودسوپه راتلویی
چې فرقان پرې نازل سوی محمد(ص)دی

حمیدزی یې وه نامه ته سپیلنی سم
ما حقیرچې دی ستایلی محمد(ص)دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما کیسه

دآنـــدپـــړي مـــې شکیدلوته تیارسـول
چې پـه عـلـم د نِـګـارکې رایثارســول

دمــغـــزو مـې څــړیـکـه وختله پورته
دوګــــــړو پــیــژنــدلـو کـې بیمارسول

دحِـسـوــنــوپه مفهوم کې پات راغلم
زما خیالونه یې معناووکې ناچارسول

عـلـم څـه دی درک کول دهریوچاردي
عالمان په درک کولوکې هوښیارسول

دســاګـانــوپـه شماربانديِ زه چارکړم
انـــدمــونــه مـې بدیوسه په ډارسـول

دښـیـګـڼـوهتې زموږ په چم کې بندې
حمیدزیه خلګ نیکوکې په شمارسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څپانده سمند

دخـــيـــال تـال بـانـدي ځـنـګـيـږم منوريـم
دژونـــدون خـــوږوتـــرخـوتـه لـکـه غريـم

څوک مې بداوڅوک په ښوباندي تعبيرکړي
يـالـوی سـيـنـديـم يـا څـپـانده سمندريـم

دګل پـانـــو پـه لـيـموبـانـدي نـڅـاکـړم
يـاشـبـنـم يـــم يـاشـمـال دمـا ذيـګـريـم

شـغـلـې کـانـدم هـرخـوپـه مـارنـګـينـه
حـــمـيـدزيـه زه قلـم يـــم روښان لمريـم

بنکلی الهام

یــوخــوږ الــهـام یــم پــه هنرالوزم
دځـانه ورک یــم بــي وزرالـــوزم

یـامـې خـیـالـونـه ددلـبـرراغـلـي
یـا لـکـه روح ورک دنـــظـرالـوزم

زه یـې دعشق په دام ګیرکړی یمه
دمـیـنـې اوریـم پـه ځـیـګـرالـوزم

دښـایـسـتـودښـایـسـتـنـه قربان
حـمـیـدزی ځـنـګ ته به دلمرالوزم

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

## دښکلوپلونه ثارم

ښـــکلامــونـدم په نیغه لاره درومم
زړونــه پلورم ورځـم دریاره درومم

تــقـــوا کــوم دښــکـلـوپـلـونه ثارم
دفـــقـــیـــرانـــــو دازاره درومـم

کـــړوګـنـــاهـــوســـه تـــوبـه وباسم
نـــور دعـیـشـونو ددې ښاره درومم

دکـــتــابـــونـــوبـه خـــبـــرې اورم
دجـاهـــلانـــــو دکـتـــاره درومــم

مــیـــنـــې دریـاب تــه به غوټه ووهم
دخــپــل مـئـین زړګـي لپاره درومم

حـــمـــیـــدزی نـه لرم سقون دزړګي
ځــمـــه دزړنـــو درکـــراره درومـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجانان ياد

نـور او وړانګويې جانان حق پک هيرکړ
دصــفــت ښــخــه يــې ښــکــلی ناتوان کړ

ســپــيــن اوسره يې دجانان ومخته راوړل
انــتــخــاب جــانــان سپين جـام په هغه آن کړ

داوښــخــه پـاس وخـــتـــودلـــبـــرمـــې
پـه پـــنـــځـــوبـانــدي تـازه يــې داجهان کړ

دپــنـــځــوس ښـخـه پنځه ورته ګلان شول
دګــلانــو خــشــبــوئـې يــې حـق بـيـان کـړ

حـــمـــيـدزی دهـا جــانـــانـــه صـــدقــه شه
داجـــهـــان چـــې يــې په خپل ځلاروښان کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروا جنګ نه غواړم

جنګه څه غواړې زموږ په غريب چم کي
دوختونوچې نڅاکړې ښه په برم کي

که يو ستړي تږي وږي پروانکړې
بس چي ته نه يې خوشحال يو په هردم کي

نه دي غواړو ورسه ورک سه بدمواېسی
ستا غندو باندي مې رنګ خلاص سوقلم کي

سوله غواړو ټول غوښتوونکي يو دسولې
ګوندي راشي سوله ليري موداغم کي

تورکارغان ګرځي آزادپه تورو غروکې
ښکاري ونيول کوتره خپل په چم کي

حميدزيه شونډان غوټ غوټ دي پري سوي
صبروکړه لوی اجرونه دي په زغم کي

## دجانان مينه

دغـمــاز دبــڼ مـنـوكـې مزه نـسـتـه
دجـانـان دبــڼ اغـزونـه سـم قــربان

دګـلابــو بــوی هـم بــد رابانـدي لګی
ددلــبــربدن خــوشــبــونه سم قربان

دښـكـلاهـيـخ نــنــداريـې مـثل نسته
دجـانـان دښـاركـوڅـونه سـم قربان

حميدزی يې پـه نامه چي پخركاندې
دهـايـار خــوږويـادونـه سـم قــربان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دچم کیسه مې

څوک دوطن په بربادۍ باندي اهونه کوي
څوک دجانان دلیدوتږي دي غمونه کوي

دلته ارمان اوفکردواړه په دوو لارو درومي
دلته په نوم باندي لاهم خلک جنګونه کوي

موږدلته توره باندي دغه دنګ چنارشهیدکړ
دوی هلته زموږ دننګ میراني صفتونه کوي

نوراجازه راکړه چي ځم ددې قاتل محل سه
دلته ورور ورور اوزوی په پلارباندي ظلمونه کوي

ته حمیدزی هم دهمدي خلکوپه چم کې اوسې
داخلک ټوله ددې غره خواکې خوبونه کوي

دجانان ستاینه

مــخ دي کــتــاب غاښونه توري
مــئــیــنــان وړه درتــه ګــوري

کلــه چــې ستــایــادونــه راســي
بس وي غــمــونه پــه مــااوري

ستــا دښائیست مثل هیڅ نسته
پــه دې نــړۍ کــې دوري هـوري

خــوبــانــومــخــتــه کړي دلبره
زړونــه عــالـم دربــانــدي پـلـوري

دخـولې دي مشـک عنبراوریږي
درتــه عــاجـزشـول واړه ستوري

حــمــیــدزی ستــا پــه یادوپایـم
پــه کــارمــې نــه دي ســاوي نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانان مې ښکلی دی
زمــاجــانــان لــمــرپــه جـهــان دی
دانـــــســـــانـــــــولارعـــيـــان دی

شــغـــلـــې يــې خـــيـــږي دمـكـانه
پاکه دی محبوب دپاک سبحان دی

نـــړی تــه را چـــې غـلـی تياره وه
اوس بـاندي ټول جهان روښان دی

حـــمـــيـــدزی درود سلام پـــري ايم
زمـــوږ نـــبـــي دېـــرقـــدردان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوښۍ انځور

غــزل شـعـرونـه په ګـونـډوسـي هـلـه
بــڼ کــې مرغان چي په نغموسي هـلـه

دښــکـلاګـانـو صـفـت نیست نابودســي
چــې دجـانــان مـخ پــه شـغلوشي هـلـه

دملنـګـانــوکـچـکـولــونـه پـــریوځـي
زمـافـقـیــر چـي پــه لــیـدوسـي هـلـه

قــربان قـربان ږغـونه شوربه جوړکړي
چــې دهـیـوادنـــوم پــه ټـپـوسـي هـلـه

زمـــوږ دکـلـــي زلـمـي وبـــه خـــانـــدي
غــږ چــې دجـنـګ دختـمـیدوســي هـلـه

لــیـکـه پـــرې لـیـکه ټــول پندونه لیکه
چـي دې قـلـم پــه خـــوځـیدوســي هـلـه

حــمـیـدزی نــه غـوړم پښـتـون جـداوي
دجـــدایې پـــه ورکـــیـــدوســـۍ هـــلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پند:ظلم ډېربددی

هـغــه شـاهـيـن چـي پـه مظلومـو زانوظلم کوي
شـاهـيــن يـې مه بولـه ټپوس دی چې داجبرکوي

دهـغـوخـلــکـوچې تـقـوانـه لـري لـيـري اوسه
یاهغـه خلـک چـې ځـوانۍ باندي دوی کبرکوي

احـتـرام وکـــړه دهـغـوڅـوک چـې الله(ج) يادوی
څــه چې لري اوچي څه خورې په هغه صبرکوي

تــرې لـيـري اوسـه دادښمن دی دوستې نه پيژنې
داګـــورګـښـان دي لوي سـوري به دي په قبرکوي

دځان خـــبـــرنـه دی خيالونوکي يـې عـمـرتيرسو
حـــمـــيـــدزی خـيـال بـانـدي دمـه پـه هغه ابرکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمادقام حال

مـوږ دجـنـګ څخه يوستړي
دمـــودو يـــولـکـه مـــړي

چــا مــو ويـــنــه بــهـولي
چــا دجـــــهـــل پـه لاروړي

موږ يو ورنه خوپه جنګ يو
چـامـــوسـتـرګـې راتـــړلي

چا مـوليکه ترمنځ کش کړه
چا بـمـوبـانـدي ويـشـتـلـي

لادرخـــوبـه مـوږکـــړيـږو
لاتـــرخـوبـه يـوخوب وړي

زمـوږ قلم سـره دوستې ده
مـوږ پـه تـوره هم نوموړي

راسئ جوړکړوخپل تاتوبی
دنـــفـــاق وتـــړوســـوړي

حميدزی لوی وطن غـواړم
رقـيـبـان يې پـــوره وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دناروا جنګونو ښځه ستړي یو
پــوهــه غــواړم نــاپــوهې ښځه خفه یم
تـــوره پــریــږده پـه قـلـم زه ښایسته یم

تـیـارې نـه غواړم په دې ښکلې میهن کې
دروښـــانـــوڅــراغـــوپـه بـلـیده یــم

ولاړســـه ورکـه سه زموږدښاره ښځه لیري
خـوارسی جـنـګـه ستا دلاسه په ګیله یم

تـــوپـان نـسـي نــړولـی ښـــه تــکـیــه ده
دپـــوهـانــوپـه مـانۍ بـانـــدي ډاډه یــم

ســتـــا شــدیــدي څپې ما خوځوای نسی
غـمـه ستـا پـه هـریو دردزه اموخته یـم

بـدې نـه لــرم پــه خـپــل مئین زړګي کې
پـه هـمــدې بـانـدي پـه تـازه رنګینه یـم

حـمـیـدزیـه تـا وعـدې کـړي ټولې ماتې
زه ولاړیــم واړه ژونــدبـــه په وعـده یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتون ته

پـښـتـون ولـې زوریـدلـی
دهـاهـسـکـه رالـویـدلـی
چـې پرې ظلم کړي بې ننګه
اتـحـاد تـر تـښـتـیدلی
چې خپل کوراوکلی پلوري
هـاپښتون نـه دی سپیڅلی
چـې دپـوهـې دښـمـنـې کا
کـوم نـادان دی تـیـر ایستلی
قـام زخـمـي مـې دی خالقه
کـوم ظـالـم پـه تـیـغ وهـلی
اتـحـادیـوالـی خـپـل کړه
سـتـاغـیـرت نـړی منـلی
خوب دي پرېږده ځان بیدارکړه
دسـهـار لـمـر راخـتـلـی
عـلـم وکـړه پـه اولاددي
توره ډال دې دی نورسترې
حـمـیدزیـه نـیـال ټومبه
نـوبـهـار رارسـیـدلـی

دجانان ستاينه

جانانه لمرسپوږمۍ نه ښکلی يې تــه
دنــــازولــــــونـــازولــــى يــــې تــه

نـــــــړۍ ودانـه خـــوپـه تـابـاندي ده
پـه جـــهــــانـــونو کې ښاغلی يې ته

ديــدن کولودي نيکبختي خوشحالي
وړه مــــنــــلــــوتـه مـــنـــلــى يـــې ته

حـمـيـدزى تــوان دي دصفت نه لرم
پـه ګـونـګـه ژبـه مـي ستايلى يې ته

## گل ته

ماســره دردونــه ښــه پــریمـانـه دي
زړه کې مي زخـمـونه ښـه پریمانه دي

حـسن بـاندي سـتـایمـه مـئیـن گله
مـــیـــنـــه کي غمونه ښه پریمانه دي

مــرگ قبـلوم تابه چـیــرې هیرنه کړم
مــرگ کــې زحـمـتـونه ښــه پریمانه دي

وغـواړم ساقـي درڅـخـه یـوه لـــپــه
ســتــا ســره جـامـونـه ښه پریمانه دي

دلــتــه حــمــیـدزی دي یــادوی گـلـه
ده ســره بــیــتــونـه ښــه پـریمانه دي

دګل مینه زما زړه کې ده
سـاګـانـي ودریـــږي زړه دمـه کــوي
زړه چې مې ستـالـیدو غـوښتنه کوي

قـربـان سـمـه سـتـا نـه عـربي جانانه
ستـا نـه خـوتـول جـهـان ستاینه کوي

پـه سلامـو بـاندي مې زړه صـبـروم
کـــنــه زړګی مـې زوریـــدنــه کــوي

سـتـا دصـفـت څخـه عاجزعاجزیم
ژبــه مــې ســتــا تــش یــادونـه کــوي

حـمـیـدزی ستانـه صـدقـه سه ګله
بــس پـه هـمـدي بـاندي بـسـنه کوي

## دژوندلوړې ژورې

دخوب تعبیرته مې حیله لټول
غمجن نصیب ته مې ګیله لټول

دمدوستړی لالهانده ومه
دمنزل لارکې مې دمه لټول

دکتابونوپه لوستلوبوخت وم
دیارلیدو ته مې پلمه لټول

دپښتوژبې په معنا وو کې ورک
دمعناګانومې کره لټول

دنیموشپودتاریکۍ دوبړې
دچم دپروکې مې ډیوه لټول

دقبرشپې راځندې هیرې سولې
محشرمیدان کې مې سایه لټول

هغه جنون ووکه دمینې زور ؤ
حمیدزې زهروکې خواږه لټول

یوالی

دکومو خلکو چې سندرې په یودم پورته سي
دغلیمانو دها سیمې نه قدم پورته سي

شپون چې ټپې کوي په غرونوکې چې یوسئ خلکو
دهغه غرونونه زورجبراوسیتم پورته سي

دېښتنو بدی بیان کړي ښه پري ځان کړې سترې
درقیب خوله کې چي یې ژبه دلړم پورته سي

اخرت پلوري په دونیابـاندي نادانه عالم
چې کوم عالم څخه باطل باندي قلم پورته سي

چې پښتانه زلمي غلام وینم په ژوندمړسمه
زما حمیدزي څخه سلګی دسترګونم پورته سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پند

سـرپه سجده کښیږده الله(ج) ووایه
شــکــر ادکــړه بـس مــولا ووایه

کــړو ګــنــاهؤسـه تــوبـه وباسـه
بـس ګناه نورنــکړم رښتیاووایه

دچــم اوفـریبه څخه لیره اوسه
فـاریغه وخت کې هم ثنا ووایه

مغرورمه سه مال اولادباندي ته
دروغ ویـل پـریـږده صفا ووایه

خیال دې دوږخ پوري یوسه ګله
جــنــت دې غــوړم پـه ژړا ووایه

همدغه ځای دامتحان دی اوبس
وه حـمـیـدزي تـه بــرمــلا ووایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دزړه درد

دسیتم اوجبرغولی
درخپل اوج رسیدلی

درقیب ظالم ګوزارمې
درسینې پوري وتلی

څوک مې پلوري تاریخونه
چامې راج دی راوژلی

علت ماکې دی قانع یم
ما زحمت نه دی ګاللی

که عالم سم متفق سم
ماهم دا هم هاګتلی

که غلام دخپل نفس نسم
بیابه هله سم ښاغلی

بس ګیلې کوی لګیادی
حمیدزي دی زړه پلورلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نازولی جانان
دښـکلـو ښـکلـی جـانـان
ډیـــر نـــازولـــی جـــانـــان

تـــريٍ صـــدقـه ســـمـــه زه
ځـومـره ښـاغـلی جانان

درود ؤســـلام پـــري وایم
پاک دی سپیڅلی جانان

پـــريٍ دانـــړیَ روښـــانـــه
لـــمـــر را خـــتـــلـــی جانان

حـــمـــیـــدزی څـــه ولیکم
الله(ج) ســـتـــایـــلـــی جـــانـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساړه اهونه

ســـاړه اهـــونـه دژونـــدســتـــړي شـيـبې
خـــزان مـــوسـم ســـه پـوره وړي شيبې

ســپــرلی پـه مــوږ باندي خزان ځکه سو
چــاد دردودښـــــــاررراوړي شـــېــــبـــې

ګـــردمـې پـه سـتـرګودجنګونوپورت دی
تــولـې پـه ســــرو ويـــنــولـــړلـــي شيبې

دآسمـان اوښکې ستا په غـم وچې سوې
هـــيـــواده ســتـــادې ولـې خــړې شـيـبـې

حـــمـــيــــدزی بـوخـت يم پرهرونوسره
مــادمــســتــيــودې بايللي شـــيـېـبــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبختي ده

جهلت که ناپوهي ده بدبختي ده
زما پښتون چې په کورګې ده بدبختي ده

دظلمونو سلسله ده دوختونو
که موخوښه ناخوښي ده بدبختي ده

ځان دنورو په غمو باندي خبرکړه
بي خبره که ځواني ده بدبختي ده

دخپل ځان داصلاح خواست الله(ج) ته وکړه
بي دوعا که زندګي ده بدبختي ده

دجانان دعشق دزوره خبرمشی
ناروا که عشقي ده بدبختي ده

حمیدزیه دبي ننګویاري پریږده
دوی سرچي ستا دوستي ده بدبختي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبريا په لټه

ځم په تاريکوکې رڼا موندمه
ورک يمه دځانه دونيا موندمه

يمه په لټون کې دښائيسته جانان
هغه سره ګل اوبورا موندمه

داچې ګناهونوسره ژوندکوم
خواکې د زاهدو تقواموندمه

خير دی که جونګړه کې اوسيږمه
دغه ځای نه هلته کلاموندمه

دلته حميدزيه ملغلرې سته
زه د ملغلرو ځلا مو ندمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما راز

دجـانـان غـم کې سـرگـردان غوندي یم
پـه سـمـنـدرکې دبـاران غـــونـــدي یم

څـوک مـې پـوښـتـنـه دپـر هــرنـه کـوي
لـیـري صـحـراکې دتـوپـان غـوندي یم

دهـیـوادغـم مـې زړه کـې سـاوي کـاږي
اوښـکـې مـې اوري دآسمان غوندي یم

حـــمـــیـــدزی نـه لـرم نـفـرت دمـیـنـې
دنـــفـــرتـــونـــوسه پښیمان غوندي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

مــحــبــت ددونــیــا مـــه کـــوه نـادانـه
مــشــغــلاکــړه پـه ذکـــرونــودسبحانه

حــیــادارســـه خـوپه علم شرم مه کړه
کـه نـه ورسته بـه په جهل یې پښیمانه

مـحـاجــرسـه دبـدیـوبـدي مـه کـړه
نــیــکــي کــانــده درهغوچي لري توانه

وفــادارســـه پـه وعـده بـانـدوفـاکــړه
پـــرقـدم بــانــدي قــدم ږده دجـانـانـه

دبـي نــنــګـویـاري مـه کوه باننګ سه
دهــیــوادهرګــوښــه دي کـړه ودانــه

حــاکـــمـــانـوتــه ســه بــوټـي ددرملو
نــاروغــانــوتـــه ارام ورکـــړه غوغانه

مرضونه دي کړه پاک دخپل زړګي سه
پـه ښـیـګڼـودې تـازه کړه خپل ایمانه

یـادیــده دغــریــبــانــودې عدت کړه
دخــوارانــومـرستندوی اوسه مدامه

درښـتـیـنـوملـګري کــوه بـــربـــنـده
پـه رښتیاکې کامیابي وي درآسمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـانـه درهـغـوښـه پـه تـاتـیـریږي
درهـغوچـې دې کتاب وي لارعیانه

یون دې پیل کړه حمیدزیه نیغه لارده
لاردپوهې وي خوندي دهره زیانه

پند

مـــحـــبـــت ښخـه وي لـیـري بـي خـبـروي
ځــیــنــو زړوبــانــدي دکـــرکـې لــوی اثـــروي

چم اوفریب ښخه پریمان چې کوم سړی وی
دهـــغـــه ســــــره دوسـتــې داورتـــغـــروي

چـې جـانـان ورتـه دمـورؤپـلارنـه ګـران وي
هــا وګـــــــړي دازلـه مــــعــــــتـــــبــــــروي

قــلـــمـــونـه ښـــکـــلاډېــــره دهـــغـــوکـــړي
چـي مـــغـــزوکـې یې لـوي جـرړې دهـنـروي

کـــتـــابـــونـــه تــش لـیـدوبـانــدي خوندنه کا
خـــوریـــدوکـي دشـغـلـویـې لـوی ثـــمـــروي

ښـــکــلاڅه ده خــو تحفه دلوی الله (ج) ده
پـه ښـکـلابـانـدي مـــغـــرورخـلـه بـشـــروي

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

حـــمـــيـــدزی پـه هــاوګـــــړوبــاورنــه کــا
هـاوګـــړي چې دورورســـــره پـه شـــــروي

---

زه دپښتنوترمنځ ناولي: ډيورنډکرښه نه منم
کــه ديــوال دپــښــتــنــوترمنځ راړنګ سو
زيــری راکــړئ هـــغـــه ورځ بـه سمه ښاد

چې هــيــوادمــودسيالا نـوسره سيال سي
راپـاڅـــيـــږئ جــــــرړي بـاسي دفـــســـاد

پـاچـاهې کــه بيلـه تـاجه دي غــوښتلـه
کـــچـــکـول واخـلــه دغـمـونومه کړه ياد

ددې هــســکــوغــروسرونو ته که ځيرسي
تــاريـــخـــونـــه بـه بــربــنـډســي د جـهــاد

دجــنـــګـونـــوسـلـسلـي بـه هلـه نـه وي
چې موږ ورک کړودخپل منځ څخه تضاد

حــمــيــدزی دپښتـانـه پـه نوم کړم پخر
پــښـتــانـه بـه تــل تـــــــرتـلــه وي آزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه یوځای کړې پښتانه قومونه
ورڅخه لیري کړې درنه غمونه

چې دوست دوښمن ته یوه خوله سي ټوله
قام پښتانه ته ورکړې داسي زړونه

چې اتحاد باندي خپل غږ اوچت کړي
وباسي زړوڅخه یې نفرتونه

چې چل اوفریب دخپل رقیب معلوم کړي
ورته ډالۍ کړي داسي هسک فکرونه

چې موترمنځ سي ورور وژنې ختمې
راجوړ کړې خدایه دوجود زخمونه

دحمیدزي ټاټوبی ګل ګلزارکړې
راکړې بادره دبهارګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولې خفه نسم ?

دنیـــکـی اودبـــدی تـرمـنـځ سیـالـې ده
په دې چم کي دجنګ سولې دښمنې ده

دتـــوپــکـــوبازارونــوکې پـــیـــرګـــــرم
دقـلــــم پـه پـیـرودلوکې سوستې ده

ډېـــر ګـنـــاه پـسـي وردانـګـي سمندر
دثـــــواب دګـټـې وټـې ښــــه نیستې ده

پـه ظـلـمونـوبـانـدي خـلـګ تـکـبـرکـړي
پـه دې کـلــي دجـاهـلـوپـاچـاهـې ده

حــمــیــدزیه ستاټاټوبی ځکه وران دی
دې وګـــــړوســـــره مـلـه بـي عـلـمـې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپل فرهنګ

خپل فرهنګ چې دپردیومخ کې هېرکړي
هاوګړي غلامۍ ته ژرتغیرکړي

دخطاده اندازه دهغوورکه
چې نااهله په خوښۍ باندامیرکړي

ورته مه وایه چې ته یې تیروتلی
چې لیدوباندي دګل درته تقریرکړي

حمیدزیه بس ښیګڼه یې ته بویه
چې دوستان دي جنازي ته ځان حاضرکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توره لیلا

تور نقاب دې په مخ خور دی شاه لیلا
څه ښائیست درته درکړی پاک مولا

نصیبونه دهغوسي رابیداره
چي خپل سرتیټ کړي ستامخ په ژړا

ته پاکې لري سپیڅلې یې ګل رنګې
درتا څوک ده رنګېنه په دې دونیا

چي خړمخي ستادیدن وکړي ښائسته سي
تا کې نور دی تجلې دې ستا په خوا

مئینان درته ولاړ په انتظاردي
دیدنونه دې کوي سهار بیګاه

حمیدزیه ستا لیلا څومره ښائیسته ده
خیال دې درومي دلیلا لورته په غلا

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

## زوریدلی ولس

دظلم زورنه زوریدلی ولس
ډیرومدونه کړیدلی ولس

نوردتوپک په ځای قلم غواړي
دغره دهسکه رالویدلی ولس

چاورله دردچاپر هرونه ورکړل
وه تورګړنګ ته غورځیدلی ولس

نورخپل رقیب ته به ځواب ورکوي
اوس یې کتاب دی پرانیستلی ولس

نوردې چلونوباندي نه غولیږي
دپښتون قام دی پوهیدلی ولس

حمیدزی ځله به دروغ وایمه
پښتون ازله دی ویاړلی ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور
نــه دردواى نـــه زخـــمـــونه
نــه جـنــګ واى نه وېــرونه

خـوشـحـاله خوشحالي واى
نــه اورواى نـــه بــــمــــونـه

هــــرخــــواتـه اتــحــاد واى
نــه زور واى نـه جـبــرونـه

دځـان جــــهـــانـه ورک واى
نــه يـادواى نـه فـــكـــرونـه

پــه غـــــروكې اوسـيـدلـى
نـه ښـــارواى نـــه كـورونـه

دعـلـم شـــمـعـــان بـل واى
نــه راز واى نـــه رمـــزونـه

ديـارخـــواتـه مې ژوندواى
نـه باغ واى نـــه ګــلـــونـه

بس زه واى يوكچكول واى
نــه مـيــاشت واى نه كلونه

بس زه حميدزى ځوان واى
نـه مــرګ واى نــه خــوبـونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ حال

دغلیم په توره پرې سوې هسکې غاړې
په هرکورکې مو مورکۍ وهې بغارې

خدایه سوله درنه غوړوسوله راکړې
زموږ په چم کې لوی واړه دجنګه ژاړې

چې زموږ ورانول غواړي ته یې وران کړې
هغه خلک چې وژل دافغان غواړې

ددردونو یادول مو بلهادېردي
حمیدزی کله شمیږلی سي ویجاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمينې ننداره

چې صحراوي تنده لوږه وي ګرمي وي
بنده ساوي ځنګدن وي دمرګي وي

ددې وړوزحمتونه ډېر هوسادي
چې مئين يې جانان نه وي جدايې وي

درښتنې مينې درده نه خبرمه سي
زړه خفه وي واړه ژوند يې په خواري وي

دمئينوپه زړه روغ ځای مونداى نه سي
توروي سكوروي هره برخه يې زخمي وي

حميدزى دعشق درشل ته ورتلاى نسم
تخت يې دردوي په ازغويې پاچاهي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لاره کې ورک

لاره کې ورک بيا هــم منـزل لټوم
دمــيــنــې اورکــې ځــان سوځل لټوم

دالــهــامـــوتــرمنـځ پـه چاڼ لګيايم
دژونــدخــوښــيــوتـه غــزل لــټــوم

زړه مـې پــرواز غوړي دغرونوپه سر
ديــارديــدن تــه لنــدمــزل لـــټـــوم

خـلـګ دکـانــوپـه اوبـــو اوبـه ســي
حـمــيـدزی سيـنـدکـې اوبيدل لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عاجزه اوسه

دخپل ښایست تري اندازه ورکه سوه
مغرور سړي ښخه آینه ورکه سوه

تاورته ورچې کړه لاسونه په ناز
دها رقیب ښخه کینه ورکه سوه

موږ د ډیوو په خواکې ژوند تیروو
ځکه زموږ ښخه تیاره ورکه سوه

تاورته دوست چې کله غږ وکړلو
غلیم ظالم سه زموږکیسه ورکه سوه

ژوند ورله هله سره لمبه سو واوره
پښتون سړي سه چې شمله ورکه سوه

ماورته ټوکوکې داناوویل
خوارحمیدزي ښخه جمله ورکه سوه

## تله

ځان سره حساب دې دبديو كړه
هم دې اندزه دخپل نيكيوكړه

دوی سره ژوندون درته په كارنه دی
كركه اونفرت دبې ننګيوكړه

تا كه په هغواعتبارونكړو
ژوندكې دې تلاښ دښوسړيوكړه

تړی يم ساقي راته يوجام راكړه
خلاص مې خوار وجود دبي وسيوكړه

داسې راته مه ګوره پردی نه يم
راسره مجلس دخوشحاليوكړه

زه حميدزی ليري دتقوايمه
ليري مې الله(ج) دناپاكيوكړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دکبراو غرور بدي

په غرور سره انسان دهسکه لويږی
چې غرور کړې هغه واړه تبا کيږی

غرور مکړه دې په علم خوار عالمه
په غرور باندي دې علم برباديږی

ته که يادکړي ددونيا علمونه واړه
که غرور کړي واړه علم دي هيريږی

غرور نکړي ښايسته سپوږمۍ هم ګوره
په ښائيست چې يې مئين هيڅ نه اوبيږی

که هرڅه درسره وي پخرپه مکړه
ملغلرې هم په خاوروکې ورکيږی

حميدزی دخاورجوړخاوروته درومم
عاجزی باندي مې زړه کله مړيږی

لادپښتون چم کې جنګونه میشت دي!
دچم دېروکې مووېرنه میشت دي
دلته زموږ خواکې غمونه میشت دي

په سمندرکې داورونوغرک یو
لاموسینوکې نفرتونه میشت دي

سینې کړئ خیرې هازړګي وګورئ
مئینوزړوکې بس اورونه میشت دي

سپرلي دژوندمو سپرلي نه دي پاتې
اوس مو سینو کې پرهرونه میشت دي

ددې تاتوبي تاریخونه سووځي
دلته دجهل کاروانونه میشت دي

حمیدزی خنګه په کټ کټ وخاندم
لادپښتون چم کې جنګونه میشت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګلومالیارته

تــورشــپــه کــې درغــلم ســهــارنــه وو
یــاره ســتــا پــه کـلـي کـې مـې کــارنه وو

تـش مـي دیدن غوښتی ستا دمخه اشنا
زړه مـــې د دردونـــوســـه کـــرارنـــه وو

زه وم مـــنـــتـــظـــرستــادوصــال اشـنا
ژونـــدکــې مـې بـغـیـرکـوم انتظارنه وو

اوس درتـــه خـیـالـونـوکـې سـلام وایـم
خـیـال سلام نه پرته مي کوم چارنه وو

وایـــمـــه هـغـوتـه چـې جـانـان مـې ؤ
دې نـه مـې پـه ژبـه بـل اقـــرارنـه وو

تـه مـې کـــړي دلـــبـــرآشنـا پـه دې خاطر
ســتـــابـــغـــیـــرنـــړۍ کې بل مالیارنه وو

څـــه درومـــه وخـوا ته دهـــغـــه ورســـه
واوره حـــمـــیـــدزیـــه کـــه انـکـارنـــه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمرګ انتظار

دانــړۍ ده ځــومـــره لنډه
مـاتــړلــې لویــه پـــلــنـــډه


بـس تــلاښ کـــوم دبـــدو
دنـــیـــکـــۍ نـه لـرم ونـــډه

آند کې ورک یم دعیشونو
ګـــنــاهـــونـه مـې بـربنډه

هـریوسمت ته مې تقواده
زه تـقـواسـه یـم پـه منډه

داغـزوپه کټ مې شپه ده
داورونــویـــم پــه ځـنـډه

حـــمـــیـــدزیـه رڼـا نـسـتـه
چـاډیـوه کـړل راله شنډه



(c) ketabton.com: The Digital Library



## دشعرجوړت

څــه دالـهـام اوڅــه دخيال سه جوړسی
څــه وي نـفـرت څـه دكمال سه جوړسی

شـعـر ډېر تريخ وي خوخوږه ترې څاڅي
څــه وي افكار څه فكرجال سه جوړسی

كسب خـونـه دی زده كــړه هـــم نــه لـري
څــه تــجــربـو اوڅـه مهال سه جوړسی

بـيـتـونه پـنـدوي خوچې ته په پوه سی
څــه وې وزر اوڅـــه دبـال ســه جوړسی

حــمــيـدزی نــه وايــم چــې زه شاعريـم
شعردغم ياڅوندخوشحال سه جوړسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترې نرۍ
دخـــيــالــونـو سمندردی
ديـار يـاد دلــتــه هنردی

زړه ارام ســـه صبروکړه
ددیـــدن تـــــرلــی وردی

کـه بـريـاراته تحفه سوه
جـانان هـلـتـه منتظـردی

دانـرۍ ده سـتـرې سترې
حـــمـــيـــدزی داسفـردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هسکه چغه

ژبــه مــې تــرخــه ده په پښتویې خوږه وم
عـقـل مې لاوم دی پـه غـمـویـې پـــخـوم

نـسـتـه خوښې نسته دغمونو په دې ښارکې
زړه مـې ژوبـل ســـوی پـه ټـپـویـې رغـــوم

داخـاوره یـاغـي ده غلـیم بـدورکتای نه سي
داده هـسـکه چــغــه پـه نـړی یـې خـــوروم

روح دحمیدزي به هم آسمان ته پروازوکړي
سـپـیـنـه مـې جـامـه ده پـه ایـرویې تـوروم

رښتيا خودادي

دګــل اوبــڼ تـــرمـــنـــځ اورنــه شيندې
غـــلــيـــم مـــوچـــم کې نفرتونه شيندې

بـس قتلوي يې چې څوک حق ووايي
نــاحـق ويـــوونـکوتـه ګـلـونـه شيندې

دپاک مؤمـن سـه لـوی دښمن نـه وينې
دسـجـدوځـای کې يې ميخونه شيندې

دمــاتـــو زړونــورو غــول جـــرم ســـول
مـــحـــبــت جـــــرم شـــعــارونـــه شيندې

مــلــنــګ پــه لارکې پـه تـــيـــرولـــې
وحـــاکـــمـــانـــوتـه عـــطـــرونـه شيندې

خــــدايــه درڅـــوبـــه وروردښـمـن يادئو
څــوک موپه منځ کي داشرونه شيندې

حـــمـــيـــدزی تــــخـــم داغـــزونـــه لـــرم
خـــلـــګ پــه شـاړوکـې لـعـلـونـه شيندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لید مې

مـــالـيــار دګـلـودی خـو
اغــــزوتـه زړه ورکـــوي

پـــه ګـــډو وډوســــــردی
وروړتـــه چـاړه ورکـوي

د دوی خــــبـــرې واوره
غـلـيـم تـه زړه ورکـوي

خوبونه لوی لوی وينې
هــوډ تــه څه نه ورکوي

صفت يې نه خلاصيږي
وچ سـه لانـــده ورکـوي

مـينه خـودې تـه وايې
دژونـــد خـوارږه ورکوي

حـميدزی څـه پوهيږي
تـولــوتـه زړه ورکـــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دالهام سمندر

دالــهـــام پـه سمـنـدرکـې غوټې ومه
دخـیـالـو دښــاردرشل ورټـکوومــه

ددردونـــواوازونـه تـــریـنـــه خیـږي
دزخـمـي زړګـي خــمــونـه ورګـنـډمه

دهـــیـــواد پــه پـــرهـــرونـــو ژړاکـانـدم
دکـتـــاب دبــڼ درمـل ورتـــه راوړمـــه

دجـانـان دلاس اوبــــوتــه انـتـظـاریم
دچـېـنـې پـه څنډه تندې څخه مرمـه

دقلـم څـوکه تیره ده ځان تري ساته
حـمـیـدزی قـلـم پـمـبـوکـې نـغـاړمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاتوبي غم مي

دغمـونـــوپـه دې چــم کې مې سقون دی
زمـا ځــوانـی کې دمستیوسه بیلتون دی

دخـالـق پـه خـلـقـتـونـو کـې آنــــدوړی
زمـا پـه نـیـکو د دلـدارسـره تـړون دی

کـلـکـې تـیـرې هم پستې راته معلومیږي
زما پـه مینه کې خپل سـوی داجنون دی

حـمـیـدزی دځـان دردونـوکـې راګـیـریم
دتـاتـوبـي غـــم خـوړلـی مـې لړمـون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهیوادحال مې
دغـــــمـــــوسـره لـګـيـا دی
تـول هــيـواد مـوپـه ژاړا دی

رانــه غـــواړي غـلـيم تـــوره
زمــا قــلـم تــه هـــم بــلادی

چـاپـښـتــون جــداجــدادکړ
څــوک قـاتـل مـــو دبـابـا دی

څوک په چل باندي مووژنې
څوک وايې مرګ يې بس روادی

غـل نـاغـل نـه مـعـلـوميږي
هـرسـړی مشغـول په غلادی

فـتــواګـانـي ګـړې نـاحـقـه
څوک عالم دی څوک دانا دی

دفـحــشــا دبڼ مـالـيـاردی
خــومـشـهـوره پـه تـقـوادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رونړ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

چې ظـالـم وي پـه مظلومو
هـاســړی دلــتــه پـاچـا دی

وېره نسـته داللّه(ج)ســه
دلــتــه ظـلـم بـــرمـــلادی

ویــنــه دلـتـه مفته سویه
هـرنادان یې په سودادی

ورور د وروردسرقاتل سی
درقــیــب دلاس امــسا دی

خــوښې نسته زړونه چوي
یــوزړه بل څـخـه جـدادی

حمیدزی حق پک هیران یم
ژوندون سخت دی که هوسادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سيند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

دلته ښګڼې بريالي خلګ کړي
دادخـــوښـــيـــو دخوبونودونيا
دادســـوالـــو دځـــوابـونـودونيا

دلـتـه غـمـونه درخـوښيوډېردي
دادمـؤمـن دعــذابـــونـــودونيا

دلته ليلا تـورې جامې اغوستي
دادسـپـيـڅـلـوتـوابـونــودونـيـا

دلـتـه ښيګڼه بـريالي خلګ کړي
داداخـــلاقـو ادبـــونـــودونــيـــا

دحميدزي وزرکــوترې په شان
دادچـــتـــکـــوعـــقـــابـونـودونيا

ځومره ښکلی مې محبوب دی
څه ښکلا لري خيالونه د نِګار
داسي ښکاري چي باران وی دبهار

په خبرويی فضا سي معطره
چي خبرې کړي را اوري پري انوار

دښکلايی اندازه کولی نسم
زما جانان دی دهمه ښکلوسردار

وه ديدن ته يی زمازړه ناکراردی
راپه برخه يی مولاکړی يو ديدار

نه يې ُحسن دې نړۍ کې موندل کيږی
نه څوک غږسي اوريدلی دماليار

حميدزی يی کتابونوکي ديدن کړم
نورکاته دې دګل سخت درهريوچار

## خوږژوند

دغــــه قلـم دغـــه یـــوه تـــوره اوچـــاړه ده زما
دغـــه ده خـــاوره دغه سیندد غه حجره ده زما

ددغـــې خـــاورې پـه مـــخ داچې دا ګلونه ښکاري
دغــه کـتــاب دغــه شـپیـلـۍ دغــه رمه ده زما

ددغــه کلـي چي په منځ کې ها لوګي ښکاريږي
دغــه مـې کــوردغه مې ځان دغه کوڅه ده زما

ددغـــې لارې پـــه هـا خـــواکې چي سندرې وایې
دغـــــه ټــــپـــــه دا ولـــولـه دغـــــه نــاره ده زمـــا

اې حمیدزیه کــه دژوند څخه دې خواتوره سوه
داغــه دی دار دغــه خـنـجـر دغه تېغشه ده زما

## چې پښتون وی

چــې پــښــتــون وي مـل دهغه تـل غيرت وي
سپين يې زړه وي هم پريمان به دجؤرت وي

پــښــتــانــه کــلــه دبل عـــــزت تـه ګـــــوري
وي ســاتـــوونـکـی دعـزت دايې خصلت وي

پـه پـــردو جـامـوکـې خـوب کـلـه کوای سی
دبـي نــنــګـويـې اخـيـسـتـی لـوی عبرت وي

لاس ږدې تـل دمـظـلـومـان پـه ســــرونـــو
دظـالــمــومـخـتــه خـنـډمل يـې نصرت وي

پـه رښـتـيـاســـره خـبـرې کــړې بـي عيبه
پـه وعـــده بـانـــدي و لاړ دايـې عـــدت وي

دخـپـل قـام ښيګڼه غـواړي په هـرحـال کې
حـمـيـدزيـه دپښتون تـل ســراوچــت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولـې؟

نـــړۍ ودانــه ده خــو
مــاتــه و پــرانه ښــکـاري

پـه مـفـتـه نـه خـپـلیږي
جـنـت آســانــه ښــکاري

خـپلـواکـې څـه تـه وايې
ددې زنـــدانــه ښـکــاري

پــه اسـلام سـر وركوي
نــوم دافـغـان ښـكـاري

نورمې زړه دردنه کوي
رقیب پښیمانه ښکاري

حمیدزی ستوري وینې
ستوري آسمانه ښكاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښوونکي ته

دښوونکي په عزت باندي ځان ښادکړه
درناوي باندي يې خپل ايمان ابادکړه

چې دنيکو کړې ښوونه اوليادي
په دوستانو دپاک رب تل اعتماد کړه

معلم هغه دی چې سيخ دې په نيکی کړي
دبدکارو استادانوځان ازادکړه

چي عالم وي اوتعليم درته ډالی کړي
په مجلس کي دښاغلو دور فسادکړه

دمعلم درويه دانړی رو ښانه
حميدزيه احترام تل داستاد کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاتوبي حال مې

بـــس زنـدان دی تـاريـکـې دي
پـه هيـوادمي تـوري شپې دي

ژړا وکــــړم خـــالـــي نـــسـي
زړه غـمــاز څـخــه ګـيلې دي

ښـکـلا نــسـتــه بــهـار نسته
دژونـــدون تـــرخـې شيبې دي

ستوري نسته سپوږمی نسته
دمـئـيـنـو انـدېښـنـې دي

حـمـيدزی خپل بخت ته ژاړم
دتـــقــديــر دافـيـصلــې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نړۍ ته چې راغلم

سترګی مې خلاصي کړي دونيا کې ومه
دخــپــل راتــلـونکي غــم ژړاکـې ومه

بـس چـې مـې ســتــرګــو دانـړۍ وليده
دهــغــه وخــت نـه پـه خـطـا کـې ومـه

کــومــوچـې يــوبــل تــه کــوهــي کينله
دهــا وګــــــړو پـه کــــلاکـــې ومـــــه

چـې دښـمـنـي يـې دګـلانـوکـول
دهـا تـيـرو اغــزپـه خـواکـې ومـه

حـمـيـدزی ښنګـه انتخاب وکړمـه
دنـيـک اوبـدتـر منځ سوداکې ومـه

# ژوند

ژوندون څومره دغم ډک وي
چې خپل زړه درسه ازاروي

که وي څرېکه که پرهروي
همه واړه دخپل یاروي

دځانګو څخه نفرت سي
که شیبې شي اوپه شماروي

ددې دنګوغروسرونه
لالویدلوسه لاچار وي

حمیدزی به درسره یم
که نیکیوکې دې چاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داژوندډېرلنډ دی

دې چـم ســره زما مینه جانان په نــوم
وخـــت مـې رانـه لاړو دآرمـان پـه نــوم

زه یـم تــیــروتلی دې نــــړی بـانــدي
هـلـتـه هـم یـوځـه سته دجهان په نــوم

دلــتــه عـــزت ځــوک دصـالـحـانـوکړي
چاســره څــه نسـتـه دعرفان په نــوم

راسـي قـتـل وکـــړي ددې ســـره ګـلاب
ځـان ته خـطـاب نـه کړی دنادان په نــوم

مـه څــه هـغـه ښـارتـه حـمـیـدزیـه تـه
هـاښـارکـې ځـوک نسته قلم دان په نــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجانان زلفي

دجـانـان زلــفــي كـــه چاولـــيــدلــې
دزلــفــو نـــوم بـــه پـــه ژړا يـــادوي

دفــكـــرتـال يـــې اســمــانـونوته ځي
ذاهـــــد دســا ســـره مــولا يــادوي

قـسـم پــرې واخله ګناهګاره نه يى
مــتــقــيــان بـــدوســـه فـنـا يـادوي

هـاشـاعـــري دي لــولپه سي په اور
چـي شـــاعـــري وي اوفحشا يـادوي

ايـمـان كـې شـك دهـغـو خلكووينم
چـي حــــرام كـاربانــدي الله (ج)يادوي

هـيـلـې بس هيلې په نامه پاتې سي
چـــي رواهـــيـــلـــې نـــاروا يـــادوي

دحــمــيــدزي خـوبـونه ټول وتښتي
چـې دمـظـلـومـوخـوک ښيرايـادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شړنګ اوکړنګ

صـــبـــرپـه غـم بـانـدي اجـرونه لري
دجـانـان مـــيـــنـــه لــوى دردونـه لـري

نـــســـه خـونـه يـم خـمـارونو مړكړم
كــــوثــــر بـي حــده خـمـارونـه لـري

دهــا ډيـــوې چـــې رڼا وركــه ســولـه
دهــا ډيـــوې خــوا تــوپـانـــونه لري

دشــــرنــګ اوكـړنګ به فيصله ته كوي
شـړنــګ اوكړنګ دوا ړه بيل ږغونه لري

دغـــــه ويـــل دې دمـــنـــلـــونـــه دي
چـې مينـان هـم ډېـر عيبونه لري

تـا ورتــه ښـلــه پـه وېــــده وويـل
حـــمـــيـــدزى ويښه كي خـوبونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيورنډتپل سوي كربښه نه منم
زمونږ ترمنځ دجبر ديوالونه دي
زمونږ ترمنځ دجبر ځنځيرونه دي

نه منم داستا فيصله نه منم
واوره اې رقيبه يوموزړونه دي

مونږ پښتانه يؤيو جداكيږونه
څه كه اوس مومنځ كې داوېشونه دي

مونږ په دوونومونو تيرئيستاى نسي
دانـاولي ستاچې كوم فكرونه دي

زه دې دډيورنډ تړون ته ژمن نه يم
لراوبركې يومو رواجونه دي

مونږدرنه په خواست خپل مېنه نه غوړو
ډک مودننګونو تاريخونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به علم وكړمه خبراوسه
علم كې دهرڅه ځوابونه دي

نشم بيليدلى دخپل ورورڅخه
دا دپښتنې خولې مې قولونه دي

زما متې قوي دي تاريخ وګوره
بس تش مې دجنګه نفرتونه دي

وينه بهول نه غواړم واوره ته
سولې ته موخلا ص واړه ورونه دي

زه حميدزى داكربنه دي نه منم
دې دلاسه ژوند كې موغمونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مظلوم سرونه

مـحــتــاج دي نــســي پښتانه قـومونه
چيرې دي غوځ نه سي مظلوم سرونه

زمـوږ ګـلـبـڼ تـه چې اورنـه شيېنـدې
آبـاد دي نـه سـي دهــغــوكـــورونــه

هـغـه چې ژوندمورنګينه غوندي كړي
خـــزان دي نـه سـي دسـپـرلـي ګلونه

ددې زړګـي كــــــرارخــــوتـاســـــردی
جــدا دي نــه ســـي دمـئيـنـوزړونه

دحـــمـــيـــدزي ځخه يې زړه پريوتی
ريـبــارچې راوړل ددلــبــرحـالــونــه

## سپوږمۍ

سپوږمۍ رڼا دې مینان خوښوې
تیارې راتلل دې غمازان خوښوې

هغه دې زوی نه دی چې تاورانوي
ستا ورانیده به خاینان خوښوې

دکلي کوره څخه وتښته څه
وژل دوروروخوبي ننګان خوښوې

ځان دې په نیغولاروسیخ کړه ځوانه
کږې وږې لارې ماران خوښوې

دقلمونو سه مانې جوړې کړه
مانې دپوهې عقِلان خوښوې

کتاب کې نوم دپښتنانه ومونده
پښتانه خلک عاجزان خوښوې

نوم په نومو کې د جانان ښه لګي
حمیدزی خپل ښکلی جانان خوښوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دماشوم خندا

دماشــوم چــې دخـنـداڅـومـره ښکلاوي
داســي ښـکـلې دهـيـوادمــې هـره خواوي

زمـا هـيـواد دښـکـلاګـانـو مجموعه ســي
په سپرلـي کې چي مرغان يې په نڅاوي

بـدرنـګ مـه وايـه ښايسته افغانستان ته
کـه نـه خوله کې به مې تل تاته ښيراوي

حــمــيــدزی دپـښـتـانـه پـه نوم نازيږم
پــښــتــنــو سره آبـاده پښتون خـواوي

بدمي ایسي

آمانت کې چې خیانت کړي بد مې ایسي
خپل هیواد سه چې نفرت کړي بدمې ایسي

نه یې غوارم نه یې دوست بولم خبرشه
چې غلیم سره الفت کړي بدمې ایسي

که ډیوه نه ده نوخه ده شغلې کاندي
دعالم چې څوک غیبت کړي بدمې ایسي

ښه هغه دی چې تقواکړي ګناه نه کړي
په غرور چې سراوچت کړي بدمې ایسي

ظلم کاندي په مظلوموپخرکاندي
دظالم چې څوک عزت کړي بدمې ایسي

خپل فرهنګ مو رنګینه پوره پوره دی
چې دبل فرهنګ عدت کړي بدمې ایسي

حمیدزی دپښتانه په نوم ویاړیږم
څوک چې شک یې په غیرت کړي بدمې ایسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله (ج)څخه غوښتنه
پــه ګـنـاه وو کـې لــت پـت یــم پاکه ربه
دخـطـاپـه غــــره اوچــت یــم پــاکــه ربـه

زه ویـــریـــږمـــــه دخـــپـلـــو عـــمـــلـــونـــو
پـه امـیـدسـتـا درحــمــت یـم پـاکـه ربه

دفــکـــرونـــو سمـنـدرکې غرک یم خدایه
خــیــر غـوښـتـونـکـی دملت یم پاکه ربه

حمیدزی دې په هرحال کې منندوی یم
انـتـظـار دي دنـــصــــرت یـم پـاکـه ربـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحمیدزي په آند

هـغـه غـریب وي چې جـانـان نه لـري
هـغـه بـه خـوار وي چې ایمان نه لري

وړې زحــمــتــونـه بـه همیش ها خلګ
څـوک چې باورلاخپل په ځان نه لري

سیـلاب هـغـه بـاغـونه ژر ویران کړي
هــغــه بـنـونـه چې بـاغـوان نـه لري

دهـــغـــو دښـــتـــوبـه ښـکـلا دڅـه وي
هـا بـیـابـانـونـه چـې بـاران نـه لـري

هـا مـسـافـر پـه نـیـمـولارو ورک سي
کــوم مـسـافـرچـې لارعـیـان نه لري

هــغــه ګـودر بـه څــه ښـکلاومـومـي
هــغــه ګودر چې جام منګیان نه لري

دحــمــیــدزي وجــود پـرهـر پرهردی
غــم اودردونــه یـې خـــزان نـه لــري

(c) ketabton.com: The Digital Library


* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

وړه جـــهــان خـــونــدكـــوي
خيال دجانـان خـونـدکوي
غـمـازپښيمـان خـونـدکوي

شـــبــنــم دګـل دپـاســـــه
ښـكلـــې ګـلان خـونـدکوي

سپوږمـۍ دســرديـاســـه
شــنـکـی آسمان خوندکوي

ملـګـري چـار چـاپـــيـــره
شـــپـــه دبـاران خـوندکوي

رمـــه دســپــيــنـو مـــيـــږو
دښـــت بـيابان خوند کوي

لاس كـې قـلـــم كتـابـچـه
هـيــواد ودان خـونـدکوي

دځـان جـهـانـــه سـه ورک
يـاد دسبـحان خـونـدکوي

دغـــرو روغـــو ســـرونـــه
ونـې مـرغـان خـونـدکوي

دحــمــيــدزي خـــبـــــره
وړه جـهـان خـــونـدکـوي

## دزهروجام

جـام دزهــرودســاقـي پـه لاس مــزه کا
شـــربـــونـــه ددونـــیـــا وړه چـــپـــه که

چې خــوارږه جامونه زماتنده نیستي کړي
خـــدایه مـا دسـتـرساقي په جام اوبه که

دشـــرابــونــوش بــه هـلـه خمارمات کړي
چــې دګـل جام وي په لاس کي اوبیده کا

خـدایـه حوض په غاړه ځای زما پیداکړي
حـمـیـدزی دخپـل جانان په جام نشه که

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهیوادپرهر

درمــلــنــه دپــرهــریــې ورلــه وکــړه
دوخــتــونــوپــه غــوغــادې دی هیواد

چې غونچې دسـروګلونـوبه بیاراکړي
په سپرلي مې دومـره پوخ دي اعتماد

حـمـیـدزی یـم دهـاسینده خفه شوی
دهـاسـیـنـدخـپـوراوړي دی فـسـاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقام په غم کې دسکاره غوندي يم
دزړه اهـــونه مې درخـــولې راوزي
دســـــتــرګـواوښکې مې شلې راوزي

درد دهـيـــواد مـې دپـــر هـــره خېژي
درخـــــوارې ژبـې مـې ګـيلـې راوزي

دقام په غــم کې دسکاره غوندي يم
ســـوې وجـــود سـه مې لمبې راوزي

حـــــمـيـــدزی ولـې به غمجن نه يمه
دسـتـرفــرهـنـګ مې جنــازې راوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په آندوعدت یم

دتــوروشــپــوپــه رڼـیدوعــدت یم
زه دغـمـــونــوپــه لـیدوعـدت یــم

دپښـتــون قام زخمونه زما زخمونه
دخـپـل زړګي په زوکلـیدوعــدت یم

خـــوبـونه وینم هیڅ تعبیریي نسته
زه دســپــرلــي پـــه امــیدوعدت یم

کهکشانونه پورته هسک کې شمارم
ځمکه اوهسک کې په آندوعدت یم

وجـــودجـــانـــان پسي پرهرپرهردی
دپـــرهــرونــوپــه دردوعـــدت یــم

دغـــریــبـــانـــوجــامــي نشـلـومه
زه حـــمــیدزی په رغیدوعدت یم

روڼ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

تور،سوراوزرغون بیرغ دې تل هسک اورپاندوی
چې موسیمه په خپل وینورنګینه کړل
آزادۍ راته ډالۍ پراخه سینه کړل

چې نیکونومونـنګ وکړپه ټاټوبي
دې څپانده لوی سیندویې ننداره کړل

تورؤ سوررزغون بیرغ دي تل رپاندوي
دې ویوباندي غلیم زموږسه کینه کړل

هسک هسک غرونه دخوښې سندرې وایي
خپلواکۍ مومبارک شپون داتپه کړل

حمیدزي ته خپل هیواد دځانه ګران دی
زړه کې مینه دهیوادیې میلمنه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دونیامې وتلل دزړه په تله
مــا دالــهــام خـــزانــه ومـــونـــدلــه
پکښې جانان وونورڅه نه وه هلته

دښــکـلاښارتـه چې مې سرکړښکاره
بـس یـوارمان وونورڅه نه وه هلته

دونـــیـــا مـــې وتـــلـــل دزړه پـه تـلـه
پکښې زندان وو نورڅه نه وه هلته

زمـا دژونــدڅـخـه سـپـرلي لیره وه
پکښې خزان وو نورڅه نه وه هلته

دمــتــقــیـــانـــوپـه کاله میلمه سوم
مـیـنـې دوران وونورڅه نه وه هلته

دحـمـیدزي سره دردونه میشت وه
دغم داستان وو نورڅه نه وه هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې خلګ ديوبل څخه نفرت کا
دمظلمواوازونه ترې نه خيږي
په هېوادمې بس غمونه رااوريږي

څوک دځان څوک دجهان سره په جنګ دی
زموږ.په چم کې هيڅ جنګونه نه خلاصيږي

ځينوخلګوزړونه ډک وي دنفرته
ځينوزړونوکې هيڅ مينه نه ښکاريږي

دفريب کاروچار دهرچا څخه ښه دی
دلته نيکوته غمونه ډالۍ کيږي

ښوخبرو اوريدلوته کانه دي
دبدانووه ويناووته نڅيږي

ولې خلګ ديوبل څخه نفرت کا
حميدزی په دې خبره نه پوهيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بي ننګ دی؟

مسلمان چې دخپل وروردسرقاتل سي
دخوښې ژوندېي دغم لورته بدل سي

ځوک چې ظلم په مظلوموکړي بي ننګ دی
یا هغه چې دغلیمه سره مل سي

وران ټاټوبی ابادي درځخه غواړي
مهربانه دی الله(ج)ستونزې به حل سي

په قلم باندي ودان افغانستان کړه
چې خوښې دې زړه کې پاته تل ترتل سي

دزړه دردځخه سلګی وهم په زوره
دپښتون چې دبدی لورته مزل سي

حمیدزی په خپل ټاټوبي باندي ویاړم
هراغزی دخپل هیوادمې راته ګل سي

حبیب مې

دمــــوراوپــلارنـــه راتــه ګــران حبیب مې
دواړوخــلــکــولارعــیـــان حــبـــیـب مې

پــه ښــکـلـي مــخ یې نــړۍ ښکلې ښکاري
واړه جــهـــانـــه قـــــدردان حــبـــیـــب مې

په لـوی میندان کې مرستندوی دی زموږ
دالله (ج)دوسـت دی مـهربان حبیب مـې

ستاینه یـې زه پــه کــومـــه ژبــه وکــړم
دخـــیــرښـــیـــګـــڼـــودی بـاران حبیب مې

حــمــیــدزی دروداوپـــــرې سلام وایمه
راتـــه پـــه زړه دی هــرمـــدام حبیب مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نه پوهیږم؟

یـا خــوخـفـه یــم خپل دبختـه څخه
یا په ژوندون باندي دمړه غوندي یم

یـا پــرهــرنــومـې وجــودنــیــولی
یـا داورمـنـځ کې دسکاره غوندي یم

یـاخــوداشـپـه ده درکـلـونواوږده
یـا زه پـه مـینـه کې نشه غوندي یم

یـا مـې دچـم وګـړي مـــخ نـه ویني
یـا زه پـه شـپـه کې دایره غوندي یم

یـامـې دزړه څـخـه تــقــوا تللې ده
یـازه دونـیـا کې دمیلمه غــوندي یم

یـاحـمـیـدزی یــم پـه ګلرنګه مئین
یـا پـه دونیا کـې بیله زړه غوندي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنرونه

دغـــــم په شـتون کې خنديدل هنردی
دزړګـي دردارمــــــــــول هـــــنـــــردی

دځــيـنــوخلګوپه دوستی پيښمان يم
دځـــيـــنـــوخـــلـــګـوخپلول هنـردی

لاس کـې قــلــم خـــودی دډېروخلګو
خـــودقــلــم ښـــه کـارول هــنــردی

پـــه شـــاعـــرانـــوالـــهـــامـونـــه اوري
دالـــهـــامـــونـــوچـــانـــول هـــنـــردی

کـــتـــاب لـوســتـل خـوپه آسانه کيږي
دکــتــاب مــغـــز راســـپـــړل هـنـردی

حميدزی غواړمه چې اوښکې توی کړم
ددواړوســــتــــرګـــوژړول هـــنـــردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتوسره په زغرده مې دوستې ده
دبــدانــوســره مــرســتــه تـبـاهــې ده
دنـیـکـانـوپـه خدمت کې پا چاهې ده

کـایـنـاتـوتـه آنـدیـوسـه پــورته لاړسه
پـه خـیـالـونودعقبا کې خوشحالې ده

دبــې پــتــودعــزت څـخـه پــرهیزکړه
دظــالــمــوپــه صـفـت کـې بـربـادې ده

حقـیـقـت کې دګناه لذت ډېرتریخ دی
دشــې بــوپه تیریدوکې چسپاندې ده

پـاچـاهي دې وه مـغــزوته هله ورکړه
کـه مــغــزوکې دې تقواسردوستې ده

حمیدزی پـه دې خبره پښیمان نه یم
دپښتوسره په زغرده مې دوستې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قلم دې ټاټوبی جوړکړه
داوښکوسیندباندي زړګی اوبوم
دزړه دردونوته درمل لټوم

ددې شي بودتې ریدودوپرې
توروتیاروکي خپل جانان یادوم

آسمان ته ګورم ورکې مینه موندم
دنفرتونوسه وجودډاروم

کړووعدوباندي پښیمانه نه یم
که مې الله (ج)مل سووعدې پره کوم

په مینه مینه کې یادونوکې ورک
دګل په یاد باندي زړګی ژړوم

قلم دې واخله خپل ټاټوبی جوړکړه
په دې خبره حمیدزی خبروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخيال سفر

پـه وچــودښـتـوکـې ګـلـونـه ښـکـاري
دلــتـه دلــوی الله (ج) فضلونه ښکاري

ځـيـنــي وګړي په خپل ځان مئين کړي
ځـيـنـومـخـونــوکـې لـعـلـونـه ښـکـاري

لاره ده نـيـغـه که پــرې وړاندې لاړسو
پـه دغـه لاردنــيــکــوپـلـونـه ښـکـاري

بـــريا دې وموندل که زړه دې پاک سو
دجــــنـــتـــوورکې حــالــونـه ښـــکـــاري

حــمــيــدزی بـيـالاړودخـيـال پـه سفر
مــخ کـې يې ګـوره څه چلونه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو الی داسی لکه کان دطلا
ستوري خفه دي په آسمان نښکاري
زما په چم کې لمر روښان نښکاري

زموږ غوښتنه دلته سوله ده بس
نورمودجنګ زغملوتوان نښکاري

زه مې پښتون ورورسره مینه کوم
ویاړدپښتون کې راته زیان نښکاري

اتک ارغندته سلامونه لیږي
تاته رقیبه داتوپان نښکاري

دکابل ږغ درپیښوره رسي
دورنه ومنځ کې لاخفګان نښکاري

یوالی داسي لکه کان دطلا
علم کولوکي تاوان نښکاري

حمیدزی بڼ کې اغزي نه ریبمه
څه که مې بڼ کې بلبلان نښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون ولي لتوم

خپلو زخمونوته درمل لتوم
دخیرښیګڼې یوعمل لتوم

ثنا دپاک پروردګاروایمه
دګناهوسه ځان ژغورل لتوم

دآندانځورمې درمحشره وړمه
دنیکوتله درنول لتوم

هڅه کوم په نیغولاروﻻړسم
دبدکړوپنداخیستل لتوم

سرونه ټیټ ددنګوغرونووینم
په عاجزي پورته ختل لتوم

په خپل قلم اوژبه ستایم هغه
دجانان پلونوباندي تلل لتوم

حمیدزی وایمه پښتوپه ژبه
پښتون ولي په ځان منل لتوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروح جفا

یا دګناه پیټی په سردی زما
یاراسه ورکه ده ددعلم رڼا

زه خوب لیدلوباندي ژوندتیروم
خوب مې تعبیرنه لري یمه خطا

دنړۍ خلګ په خندا لیګا دي
زه سلګۍ ومه یمه تل په ژړا

کوم کارونه بیله فکره همیش
ځکه غمونه مې دي بارپه ملا

سپرلي کې وینمه خزان ګلونه
سترګې مي نه وینې ځلا اوښکلا

مل مې دی و هم دوجوددبدو
حمیدزی ډارنکړم درح دجفا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخونه موراسوځي
څـومـره ډېـردي زموږ غمونه
پـه وجــودبـانـدي زخـمـونـه

وران ويـجـاړمــو دی ټاټوبی
دظـالــمــوپـــرې ظـلــمــونه

تــاريــخــونــومــوراسوځي
هــم يـې مـات کـړل قلمونه

دفــرهـنـګ مــو دښمنان دي
پـــرې خـــبــردي عـالــمــونه

ياخـوموږپه خوب ويده يو
يـامــومــات دي انــدمــونـه

راســئ ورنــــومـتـــفــق سو
رايــوځــای بـه کــړوقامونه

نــوربـــه پــوهـه کړوحاصله
وړه زده بـــه کـــړوعـلـمـونه

کـــه دواړه چـــارې وکــــړو
مــوږبــه روغ کړي ملهمونه

حـــمــيــدزيـه نـفـاق اوردی
اورنـه ډک دي جـهــنــمـونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیروی باندي یې زما ساکړي تمامه
خپل جانان راته دټول جهانه ګران دی
په ښکلاباندي مئین یې هرانسان دی

یوکاته یې ناپایانه خوشحالي ده
ځلاندلمردی ټول جهان باندي رڼان دی

مور ؤپلاراوداتاتوبی مې ترې زارسه
زما قلم یې په ستایلوکې ناتوان دی

پیروی باندي یې زما ساکړي تمامه
یاالله (ج) زما همدغه یوارمان دی

بریاداده چې تقوادې سوه په برخه
حمیدزیه ګناهونه سترتوپان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پو هه ښه ده

که پاچا يې هم غريب يې مسلمانه
که ښيګڼې درسره نه وي انسانه

عاجزی باندي انسان ښکلی ښکاريږی
لويې بده ده هم ډکه دتاوانه

ځان اصلاح کړه داخلاقونمونه سه
ښه اخلاق دي يوه برخه دايمانه

علم وکړه هم يې نوروته ورزده کړه
پوهه ښه ده خوښه کړې ده سبحانه

دظالم ملګري مه کوه هيڅکله
تل ترتل اوسه دونيا کې مهربانه

يادول دپاک الله دي يوعدت کړه
زړه دې پاک کړه په ذکرونودسبحانه

حميدزی بس دخپل نفس سره په جنګ يم
دبديوسه بيريږمه مدامه

دالهام سمند

دا دالـهـام سـمـنـدر
دلـتـه آنـدونـه اوري

دادخـوبـونـودونيا
دلـتـه رنـګونه اوري

دا ده درخـې کـلا
دلـتـه غـمـونه اوري

دادنـفـرت درشل دی
دلـتـه اورونـه اوري

دادپـښـتـون تاتوبی
دلـتـه ننـګونـه اوري

داداف‍غـان شمله ده
پرې سره ګلونه اوري

دحـمـيدزي ليکل دي
پـرې الـهـامـونه اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغمازسر په خپل قلم پري کوم
تــيـــږې وجـودباندي ګنډمه اوځم
تـنـدرفـضــا کـې مــاتــومـه اوځم

پـه وچـه دښـتـه کې ګلونه موندم
ګـلـبـڼ اغـزونـه خـلاصومه اوځم

دغـمـازسـرپـه خپل قلم پري کوم
خپل پياوړتيا ښکاره کـومه اوځم

دجـانـان هـيـلـه مـې دزړوګټل وه
دلـتـه څوزړونه هم پلورمه اوځم

ژبـه بـه پري کړم کې دروغ وويل
دبـدوکـــرکــه بــه کــومــه اوځــم

په حميدزي باندي مظلوم قدرمن
ظالم بـه چيري نه ستايمه اوځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوندون کې یې خزان ابدي سوی
انسان ځان لره په خپله عزت مومي
بدوکړوباندي په لوی لاس ذلت مومي

دسپوږمۍ په راختوسي تیارې ورکې
مئینان یې په لیدلوقوت مومي

غمازان به دي زخمونه پټې نکړي
غمازان دي کړیدوکې رحت مومي

دزړه خیرې دي نیکیوباندي پریوله
زړه دې خپله په خپل ځان کې جنت مومي

په ژوندون کې یې خزان ابدي سوی
حمیدزی یې په سپرلي کې علت مومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

پګړۍ مې سربندي توپان نه پرېږدي
دخپل قسمت څخه ګیله نه لرم
غمجن زړګي ته هم پلمه نه لرم

دمدومېشت یم دتیارو په ښارکې
په خپل جونګړه کې ډېوه نه لرم

دلته وګړي په درنه خوب ویده
وه ویښتابه ته یې تپه نه لرم

بګړۍ مې سربندي توپان نه پرېږدي
کروړ ترلوتي موقه نه لرم

زما تاتوبی دې زخمي زخمي کړ
ولې غلیمه زه چاره نه لرم

هېوادمې اورکې لادرخوبه سوځې
حمیدزی بله اندېښنه نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قاتله توره

لالــهــانـــديــم پـه رڼـا پـسـي دعــلــم
بــى كـــراريــم دبـــــديـــوســـه دظـلـم

نيغې لارې مې خوښيږي پرې مزل کړم
دبــريــا لــورتـــه پـه لـوڅوپښوورځغلم

احـمـقـان رابـانـدي خـانـدې نه پوهيږي
زه پـه تـــيــږه داقـــاتـــلـــه تـــوره ولـم

مــــيـــنـــه كـــاندم دقـلـم سره په زغرده
دې وګـــړو تـه مې داكړن ښكاري جرم

هـا وګـــړي دكـلــونـــوڅـخه خـــواردي
هـا وګـړوتـه كتاب لاس كې لوى شرم

داغـــزومنځ كـې ګـلـونـه دي غوړيږي
حـــمـــيـــدزيـــه پـښـتـانـه دګـلـــونـــرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مشوره کړه

دژوندخوندورته بي خوندسي
چې په هيله تش دقندسي

ناکامې يې سي په خته
چې خپل کړوته بيله آندسي

په ښوکړنودي ځان هسک کړه
چې غروردي واړه بندسي

مشوره کړه که څه پوه يې
چې وايه دي ډک دپندسي

حميدزی عاجز بنده يم
اندامونه څله رندسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دبدبینۍ څخه نفرت

هیله کانـدم چې ژونـدون به دنیکۍ کړم
بـس یـــوازي بـه نـفـرت دبــدبـیـنــۍ کـړم

پـه خـپـل کــړنــو بـه دزړونــو هڅیوال شم
لـــیــري والــی دبـي نـــنـــګــودیـارۍ کـړم

کـتـابــونــوکې پـښـتـون اوپـښـتـومــومـم
خـواست الله(ج) ته دخپل قام دخپلولۍ کړم

داخـــلاقـــودبـــښـــونـــوبــښـــوالـۍ تـه
پـه بـیـبـلـوپـښـو اغـزوبانـدي مستۍ کړم

حــمــیــدزی پـه نــیـغـولاروسـفــرغواړم
پـاک الله(ج) ته په ژړابـانــدي زارۍ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې پلورم

خپل دژوندشېبې تلمه
لوی غمونه زه ګالمه

په تیاروکې مې مزل دی
درنا منزل ته ځمه

په اغزوباندې مې شپه ده
دهیواد دغمه مرمه

خپل وجودمې دښمن بولم
ستا په یادیې زورومه

درقلم مې اوښکې څاڅي
حمیدزی اوښکې پلورمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګرم یو

موږ په خپله خپل چم ویران کړی دی
ځـــکه دپـــــر دیــو نــه خیرا ت غواړو

لارې مـــو دپـــوهې بــنــدې کــړي دي
اړیـــو دغــمـــازو نــه زکـات غـــواړو

خــپـــل دورور په وینو تنده مـاته کړو
غږکړو چې په کلي کې جـومات غواړو

نــه مــودی لـوستلـی دبـــریا کــتــاب
څلـه دنیـکبـختـو شان حیات غـواړو

مـنځ کې مـونفـاق ســـره ویشلی دی
بــدیــو قـلـمونـه مـومـات مـات غواړو

جــنــګ مـو په مـغـزونـو کې کرلی دی
رخې څـخـه ډک ټـول کایـنـات غـواړو

وایي حــمــیــدزی پـه دعــاګــانـــوکې
ربـــه کــړاونـــوسـه نــجــات غـــواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

کــلـونـه کــيــږي وژل کــيــږي پښتون
مــدو مـــدو څـخـه زوريـــږي پښتون

پــرهــر پرهر يې دي دچـــم ګـــلـــونـه
مـــرګ يــې روادی لاقـتـلـيـږي پښتون

څوک يې کافرڅوک يې مجرم يادوي
دمـسـلـمـان په نـوم زوريــږي پښتون

ظــالـــمـــوکــــړي ورتـه يـــوصـــلا ده
دغـلـيـمـانـــونـــه خــوښـيــږي پښتون

دخـــوب يې ډېـرې مودې تيرې سولې
نـن يا ســـبـــا به راپـاڅــيـږي پښتون

خـــپــلــو رقـيــبـوته ځـــواب ورکوي
دنــيــکـــمــرغی سمته ستنيږي پښتون

دبـــيـــټ کاله کې بـه مسکا خوره سي
بـيـا بـه هـيـڅـکـلـه نه ژړيـــږي پښتون

پـه خـپـل قـلـم بـه نړيوال هيران کړي
وپــاس هـســکـونـوته به خيږي پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښــونــځـي نـــــوم به یــولی ایـــږدي
په خــپـــل مقام به بیا نازیږي پښتون

بـیـلـتون به ختـم سي دورنهومنځ کې
په یــوه چـــم کې به اوسیږي پښتون

دحــمــیــدزي به ارمـانونه پـــره سـي
په لـوی هیواد کې به اوسیږي پښتون
* * *

## غــولــیــدلـي یـو

غــولــیــدلـي یـو په خپلو کې په جنګ یــو
دمـــدو څـخــه دخپـلـوکـړو پـه تـنـګ یـو

دیـــوالـــي پـه نــامـــه مـــوخـلــک وژنـي
دکروړغره په شان یو بیا هم داسي ړنګ یو

وخـت راغـلی چې په پـوهې به سیالي کړو
کـه رښـتـیـا نـړی مـنـلـي خـپـل په ننګ یو

مـوږ کـه یـؤ سـو دخپل ورور سره پخلاسو
باور وکـړئ چې دهـــرچـانه بـه دنـــګ یـــو

په الـهام کې مـــو دژونـــد سـنـدرې نڅي
حــمــیــدزي ســره لاسـونـو کې لونګ یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ »»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

قام مې ویښ سوی
زمـــا دقـــام غـــــږونــــه اورئ
هسک هسک غرونه تري لړزیږي

دمــــــــدو چــې نـاقــــرار وه
هـــغـــه زړونـــه قـــرار یـــږي

دکـــلـــو چــې دلـــتـــه جوړوو
هـا دیــــوال بـه رانـــــړیـــږي

چــې پـه بـــیـلـــو لارو تـلـلـه
هـا سـیـــنـــدونـــه بـه ګـډیږي

چــې یــې لـــمـــرنـــه ؤ لیدلی
هــغــه زړونـــه بــه سوځـیـږي

دوخـتــــونــــو چــې خـــزان وه
ګـــلابـــونـــه بـــه غـــــوړیـــږي

ولـــې مـــوږ تـــل بـــریـالـي وو
تـاریـــخـــونـــه لـــوستـل کیږي

په صحراوکې چــې مېشت وه
دبـــنـــو ســـمـــتـــه ستـنـیـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رونې»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

چې دخــولــو وه پــریـوتلي
هـا نـــومـــونــه بـه یادیـږي

پـه کـلـونـو چې وه سـتــړي
هـا وګـــړي هـــوســـاکـیـــږي

چـې آنـــدونـه یې وه مـړاوي
اوس آنـــدونـه یې غـوړیـــږي

ښـــــکـــــلا ګـانـې بـه راورې
بـــیـــرغـــونـــه بـه رپـیـږي

پـښـتـانـه بـه بـریـا مـوندې
رقـــیـــبـــان بـه یـې ژړیـــږي

کـرغـیـړنـه لـیـکـه سوځي
ددیـورنـــد نـــوم بـه هیریږي

دکـتـاب بـه وي مــلـــګـري
غـلـیـمـان بـه تـرې ډاریږي

پـښـتـانـه بـه سـریــو سـې
رانـــه سـتــوري بـه نـڅـیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلـتــه مــینــه به خوره وي
نـــفــرتـــونه به ورکـــیـــږي

ددوســتـــرګو منځ کې مینه
حــمــیــدزي ته څــرګندیږي
* * *

هسک ته موآندونه وړو
وړانـدې ځـــو دهـیـلـو مــوپالنه کړو
مـوږ دګـلابـــونــونـــه سـتـایـنـه کړو

مـیـنـه دخالق مــوزړه کې مېشته ده
تــل دبـــدکـــړنـــونـــه غــنـــدنـه کــړو

هـسـک تـه مو آنـدونه وړو بریامـوندو
خـپل پـه ارواحـونـو پـیـرزویـنـه کړو

دښـتـــه دفـراق کې شــرابـــونـه څکو
شـرط کې دمـوندو یې نیکه کړنه کړو

دامـنـو چې ژوند دخوشحالۍ ډک دی
ځـــکــه دنـفــســونـو مـــو وژنه کــړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک وايي په زړه باندي غمجن نسته
ځو دحـــمـيـــدزي سـره لـيدنـه کړو

* * *

ښکلادښکلوخلکو

په زړونـــو کې مـوميشته ده ښکلادښکلوخلکو
مورړومونـدل ژونـدون کې بس وفا دښکلوخلکو

دګلـوپه لــيدولو موپه زړو کې خـــوښي نښي
خـــوشبـوي مو ليدلي دي په خوا دښکلوخلکو

زاهــده دتــقـــوا ده انــــدازه زمــورږ سه ورکـه
ديـدن کې خـوبه نه وي څه ګناه دښکلو خلکو

دحق چې وي مـلـــګري ها وګړي ښايسته دي
په خــتـــه يې رنـــا وي دعـقــبـا دښـکـلـوخلکو

وګــــړي په سـپـورږمــى بانـدي مين له دې کبله
لـــيــدلي يې مــخـونـوکې ځـلا دښـکـلـوخلکو

تـيــارو کې حـمـيـدزى وم دوخـتـونورنا نه وه
پـيـدامې کـړل جـونـګړه کې رنـا دښکلوخلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکړاونو ښخه ستړي یونور

ته هــوسـاینـه مـو ژونـــدون کې ابــدې کړې خدایه
ســـتــړي وګـــړي یو په چم کې موښادې کړې خدایه

مودې سوې تېري زموږپه زړونوکې اورنه میشت دي
زړوکې مــومیشتي دبــریاوو خوشحالي کړې خدایه

ستـا بـــنـــده ګـان یــو ستـا په لاره دمزل هیله کړو
هـــوډ مـــو پـیـاوړی دبــدیــو مــوخـالې کـړې خدایه

دکـــــړاونـــو دګـاللـو ښخـه سـتــړي یـــو نـــور
دســتـونـــزو لـیــري زموږخورانوزندګي کړې خدایه

دجــنـــتـــونـــو په خیـالـونـوبـانـدي زړه صـــبـــرؤ
زمـــوږ او ګل تـــرمــنـــځ راختـمه جدائې کړې خدایه

درنـا ګـانــو درناوي بانــدي پـــوهـــیـــږو پـــریـمـان
دحـمـیـــدزي پـه هـیـواد هرخوا رڼائې کړې خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقــران مــخ یادومه

دګــلاب مــخــتــه کــه ګــورم دجانان مخه یادومه
چې مې زړه سـي په دردونــو دقــران مــخ یادومه

خــوب دکــومــه ســي وګــړو شاوخـومې دي غمونه
ستــرګې ژاړې اوښکې ځاځي دمیزان مخ یادوه مه

خپل په سترګو ظلم وینم مخنیوی یې کوای نسم
لادرڅــوبــه زه وجـــوده دتــاوان مـــخ یــادومــه

کــه قلـم مې دی لاسوکې زولنې مې دي هم ملې
درونړ سیند په غـاړه ناست یم دبیابان مخ یادومه

دخــپــل آنـــدســره ملګری دنړۍ سپوږمې ته ګورم
دخـــوبـــونـــو په دونــیــا کې دانـسـان مخ یادومه

څومره ښکلي زموږ هسک غرونوتوپانونه پرمین دي
حـمـیـدزیه دویـاړ ډک دی دافـغـان مـــخ یادومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حـــمــیــدزیه پښتون یودی

د اوبـــو پــه لـــتـه درومو
د اورونـــــوســـمــنــدرکې

دغـــمـــوچــم کې اوسيږو
د دردونـــــوپـــه ګـــودرکې

لمرروښان دی مورږانده یو
ړنـــدې سترګې موپه سرکې

دګـــلـــونــوســه نفرت کړو
داغــــزو یـــوپــه نـــظــرکې

مـــورږ پــه کـــانـــوباندي ولي
غلیم ناست مودی په ورکې

ورونـــه وژنـــو هیـواد پلورو
زړه مـــونـســتــه په ځیګرکې

حـــمــیــدزیه پښتون یودی
تـــوپـــیــرنـســتــه لــراوبرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلــتــه وګـــړي بــس شــرونـــه اخلي
جــنـــګ دزلـــمــو نـــه مو سرونه اخلي

غـــواړي تاريـــخ مـــوراته لولپه کړي
دتـــانـــدقـــلـــم مـــو ازاورنـــه اخـــلـــي

پـه فـولادي قـلـفـويې خـولې تـړلي
وګـــړي خـــولـــوتـــه ځينځرونه اخلي

حجره کې دوه زلمي په يوه خوله ندي
ځــيـنـــي اوبــه ځـــيـنـــي اورونـــه اخلي

پـــه سيـنـدکې ويني مو دورايه ښکاري
دجـنــګ لـوګـــي مـورانـه غـرونه اخلي

غـــواړي مـــرغه پـــشـــان هـــواتـــه لاړسي
حـــمـــيـــدزی ځـــانـــتـــه وزرونـــه اخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترمنځ مولیکه نسته

دتورو وریځوپه شان دلته ځوزړنه توردي
دخپل ملت دغمه ځوبشرونه سکوردي

ټاټوبی ځان بولي خو ورله خدمت نه کوي
په دې غریب وهیواد کې کاږه آندونه زوردي

موږته ددوست خطاب کړي په فریب مووینه ځبیښي
دوستان مونښي کیدای زموږ وجودته اوردي

کله اټک یادوم کله ارغند اوهلمند
ددې سیندونو اوبه زما دښکلي کوردي

موږ دې ډیورند نه منو ترمنځ مولیکه نسته
داپښتانه وګړي واوره بس وروور ورور دي

دخپل هیواد زخمونه خپله ګنډمه خلکو
دحمیدزي خیالونه دخپل هیواد په لوردي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخته مورډرنه غافل یــو
پــه ازغــوکې په مزل یـــو

قـــدر نــکــړو دګــلــونــــو
و بــلــبــلــوتــه اجـــل یــو

دتـیـارو وښــار تــه درمـــو
درنـا لـــوري تــه شــل یــو

کــتــابــونـــه مـــوســوځلي
دجـاهــلــوســره مـــل یـــو

نـیـک وګــړي مــوبــدایسي
وبـدانــوتـه خـپـل خپل یو

مـوږ پــه ژونـدیـو غولیدلي
پــه ګــنـــاهـــوکــې اول یـو

وړاندې تګ یې زغمای نسو
خپل دورورسره په چل یو

مـــوږ کــه یـوســوعلم وکړو
حــمــیــدزی تـل بــه ګل یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

راځـئ مــکــتــب اومدرسه کړوودان
په خوب ویده پښتون ویده پاته دی
دعـلـم پـوهـې لاګـــوښـــه پـاتــه دی

دیــتــیــم ولــې څـوک ژاړاوي واوري
دڅـــونا اهــلـــوپـــه کــالــه پــاته دی

دلـــتـــه مـــوږ فـــخـــرپه نیکونوکوو
غــریـب هــیـواد موبیله وره پاته دی

راځــئ مــکــتــب اومدرسه کړوودان
تــاریــخ دویــاړ مــوبــي کـاته پـاته دی

راسـئ درخـې څـخـه تـې ـرشــو ورنو
مــنــځ کــې نـفـاق مولا پرڅه پاته دی

دګـلـوبڼ یـې دی پـه ویــنــوسـمـسـور
پـه پــښــتــنــوکـې لابـي زړه پـاتــه دی

چــم تــه مي سـور رنګ دقلم نه راوړم
دوینــو رنــګ مـې لاپـــر زړه پـاته دی

غـــمـــونـــه ولي مـــو دکـلـې لاړســي
غـــم حـمـیـدزي سـره میلمه پاته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولــې ورونـه پــريــوبـل نـــكړي باور
وروررخـوورورته دى په شان لكه دغر

مــومــنـــان خــو ديـوبـلـه سه زاريږي
ديوبل مرستې ته درومې په مال سر

خـوږيـوالى دى ټاټوبي پري جوړيږي
اتــحــادپـه شـان د كان دى دسره زر

هيڅ وګـړى دخپل ځـانه پوره نه دى
نـسـتـه بـيـلـه اړتــيـا دلـتـه هيڅ بشر

پـښـتـانـه كـه پـه يـوه ټغرراټول سي
هــيـڅ يـوغـشــى بــه پـرې ونكړې اثر

كـه وګــړي رخــه كـــانــدي ديــوبـلــه
تيرايستلي دي ابليس په خـپـل هنر

حـمـيـدزيه مسلمان په تقوا ښه وي
په اسلام كې هيڅ باك نسته دتـبـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم درب دی څومره ښکلی
هـرمخلـوق تـه دی منلـی

لـمراوستـوري يې کړي ذکر
خـالق واړودی ستـایلـی

ثـنـا وايـي اوبـه خـاوري
پـاک مـولادی ډېـرسپڅلی

پـاکـو زړونـوکې جاري وي
الله وايـې هـــرښاغلــی

هـروګـړي چې يې یادکړي
درحـمـان وی نـازولــی

حـمـیدزی دې ثـنـا وایـم
پـه ګـنـاهـــویـم لـړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سيند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

دپـښـتـون اودپـښـتـوسـره جفـا کـړي
دبـي فــتــو افـسـانــوسـره وفـاکــړي

خـپـل ضـمـيـرپلوري خپل ژبه پردۍ بولې
تــل دنـيـکـو پـه کـارنــوکښـي رياکـــړي

دوست هغه بولې هېوادچي ورته ړنګ کـړي
نـاپـوه خـلـګ تـل پـردېـوتـه ژړاکـړي

دګـلـونــوډک بـڼـونه پـه اورسـوځـي
ولـمـبـوتـه يـې خـوښـيـو سـه نڅا کړي

سـتـوري بدبولي سپوږمۍ نه هم نفرت کا
دتـيـارو وه ژر راتـلـلـوتـه خـنـداکـړي

دشـمـلـود درنـاوي سه چـې مـنـکـرسـي
زه يـې نـکـړم زمـا زړګـی ورتـه ښيراکـړي

پـښـتـانـه وګـړي تـول سـره يـوځای کړې
حـمـيـدزی تـل خـپـل بـادرتـه دا دعاکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــا دخــوبــونـودونيا
زړه ســـره کـــړي جفا

مـا دثـــــواب لـــپــاره
ګـــلـوتـه کــړي مـسـکـا

کـه مــې صفت کړی دی
صـرف مې ستایلی الله

دخـپـل هـېـواد دغـمـه
نـه مــې اودریـــږي ژړا

پښتومې وياړدی واوره
هم مــې دژونـــدده رنـا

پــه اسـلام ســر ورکـوم
څـــومـــرده لويه سودا

زه يـــم مـيـن پـه ګلاب
زړه مې دی کروړپه وفا

وايـه مــې سـتـا لـــپـــاره
حـمـيـدزی وايم رښتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستـا دمــخ دښــکـلا وړانګې
زمـا دزړه پـه ســر رادانــګـې

ستـا خــبــرې هومره ښکلي
مــیــنـــان دي ورتــه ځانګې

ســپــیلــنـی شـــم درتــه ګله
ستا دې ښکلي وړاه څانګې

ستـا پـرلاره کـه خـوک لاړو
هــغــه مــونــدې ټوله پانګې

ستـا دیــدن زمـا ده هـیـلـه
حـمـیـدزی و هـــــم غړانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړموکړئ وېران هیواد
دوخــــتـــونـــودی بـــرباد
ځـــیـــنـــوخرڅ کړپه پردیو
چا بیا خـــور کـــړلو فساد

هـــر وګـــړی دلـتـه ګرم دی
چا مـــوکـــور نـــکـــړآبـــاد

کښت دګلوکړئ په غروکې
مــنــځــنــه وبـــاسئ تــضــاد

خپلـه جـوړافغانستان کړئ
پــرچــا مـکـــړئ اعـتـمـــاد

تـــوره پوښ کې کړئ راګیره
پــــرکـتـــاب کـــړئ اتـحـــاد

زمـا ټـــاټـــوبی جوړتیا غوړي
نـــوریـــې جـنـګ نـــکـــړئ آزاد

مـــوږ یـــو ورنه پـردي نه یو
زمـــوږ تـــرمنـځ نـستـه عناد
حـــمـــیـــدزیـه تـاریـــخ لـــولـه
تـــیـــر وخـــتـــونه کـــړه رایاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلـمـه تـابـانـدي ويـاړلـی يـمـه
دسـتـونزوشتون کې هم پياوړی يمه

دهـيـوادغـم مې ستا په اوښکوليکم
داحـسـانـودې پـوره وړی يـمـه

ځـيـنـوته بدځينوته ښه ښکارمه
سـتـاپـه نـشـتـون کـې لکه مړی يمه

تـه مې مـلـګـری دتـيـارويـې واوره
تـا رڼـا ګـانـوتـه هـم وړی يـمـه

پـه تـا خـبـرې دزړګي لـيـکـمـه
حـمـيـدزی ځکه ستړی ستړی يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رونږ»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

دښــــوانـکـارمـــه کـــوه
دظـلـــم کـارمــــه کـــوه

تــل دبـــــدی یـــې تښته
داغـــــــزودارمــــه کـــوه

پــه نـــیـــکـــولارودرمـه
نــــورانــتـظـارمـه کـــوه

ژوندون دبادپه شان دی
پـه ژونـــــداعتبارمه کوه

کــــړه مــشــوره همیشه
پـه کـارتـلــوارمــــه کوه

دپــوهې لارکـړه خـوښه
پــه قــلــم وارمــــه کـــوه

حـــمـــیـــــدزی وزوروه
زړه نــــورکــــرارمــه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعشق پرلاره راته تلل بدښکاري
دمینې ځان راته ژغورل بدښکاري

خپل کړوته ګورم اوبدلون راولم
ځان په تش هیلوتیرایستل بدښکاري

دګلوبوی خوپرهرچا ښه لګي
اغزي دبیخه څخه کښل بدښکاري

پوهه انسان ته نیکمرغې ورکوي
دجهل لارې تش څارل بدښکاري

رښتیا ترخه دي ددرمل په شان دي
دروغ وایوباندي خندل بدښکاري

حمیدزی لاردنیکوښه پیژنم
دبدوځان هم خبرول بدښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهيوادپرموږ.ګران نه دی
ځکه اوس هم ودان نه دی

خپله بد وړو ديوبله
آيا داکړن مو زيان نه دی

وروور دښمن بولولګيا يو
د وروورمرګ موارمان نه دی

خوب يو وړي خبرنه يو
ځکه ژوندمو روښان نه دی

که په توره کې موګټه
هسک قلم هم تاوان نه دی

که ګل نه غواړي په بڼ کې
حميدزيه بنوان نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـدایـه هـوساکـړي پښتانه وګـړي
ډېـرو مـدوڅخه دي ستړي ستړي

دجـنـګ جـګـړوپرې اثرونـه ښکاري
جـاروتي پـښـوکې دنفاق بې پـړي

هـسـک یې آندونه دي منم یې ربه
خــوسـمـنـدردي دخــوبـونـو وړي

تـه راتـه مــیــنـــه اویـوالی راکـړي
مور.ته راخلاصي کړي دعلم سوړي

پـه حـمـیـدزي بانـدي غـمـونـه مین
سـپـرلـیـه تـاراتـه خـوښـی راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژړا

خـــدایـه(ج)ما په رستــه اړخـوکې شـمـارکړي
دهــربـــــدومـــې نــړۍ کې پـــر هـیــزګارکړي

ګـنـاهـــــونــــــو څــخـــه پاک زما وجـــودکړه
دغــلاجــبـــــر اولــــتـيـــو مـې بـيـزارکړي

زړه مې خــوښ کړي ستا رحمت باندي خالقه
پل مې ټـينـګ دخپـل حبيب په نيک لارکړي

دنـفـس جـال کې مې راګــيـــر مـکـړې بادره
ټـــول اغـــزي دبـيـابـان راتـه ګــلـزارکـــړي

زه عــاجــز يـــم عـاجـزې راته تـــحـفـــه کا
دغـــرور کـــبـــر اورخـې مې کـــرارکـــړي

دګـــلاب اودګـــلـــونـــومـــيـــنـــه غـــواړم
نـاروا عـشـق سـه زړګـی مې تـل په ډارکـړي

مـا نـيـکبـخـت کـړي دنيکبختوپه ټـولی کې
حـــمـــيـــدزی دنـــيـکـبـخـتـانــو دکـتـارکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستـایادونـه مې خپلوان دي
ځـکـه ګـران راتـه دځان دي

زړه مي تا غــواړي دربـيـږي
قــــدمـــونـه مې لــړزاند دي

ستا نـوم ښومره بهترين دی
غـوړيـدلـي پـري ګـلان دي

وخـتــه ستـاغـيـږه لمبه ده
تــــوپــانـــونـه دي روان دي

دنـــــړی پـه ګـل مـيـن يـم
کـــــــړوانــــه مـي ودان دي

چـې مـيـن پـه ښـکلي نه وي
حـمــيـدزی نـاپـوهـان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

والـــوزم آسـمـان ته الــوتــل پیل کړم
ځان ګورم دهسک خواته ختل پیل کړم

دانـــــړۍ بــد رنـــګــه راتــه نه ښکاري
ولې دخـــپـــل زړه غـریب وژل پیل کړم

مـیـنـه دلـتـه هـر خـوا رڼا ګانـي کـړې
ځان سره مې بدکړم چې خندل پیل کړم

وګــــوره دغــــرونــــو داعــاجز وجود
زه ولې غـــرور ته نـخـیـدل پیل کـړم

مـــرګ مې درســـرو وینو رانږدې دی تل
اخ بــــد یم ګناه ته چې ورتلل پیل کړم

داخـــــبــــــره ځان تــه ولې نـــه کـــوم
کــلـــه به دراز ســمـتـــه مزل پیل کړم

ربــه ته مـــې مینه زړه کې میشته کـړې
هسې چې دزړه مـې رغـیـدل پیل کړم

مینه سوځیدوونکې مې په خـواکې ده
یاد چې دښکلا کړم سوځیدل پیل کـړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

وغـــوړم دعا وو کې ګل رنـــګ جانان
خورا حميدزی ياد کې يې ژړل پيل کړم

* * * * *

ځـانــه سمندرجــوړکــړه
عـقـل ځخه غـرجـوړکړه

وکـــړه دګـلـونـو کـښـت
زروســه ټـغـرجـوړکــړه

والــوزه دهســک پـه لــور
خيال تــه دې وزرجوړکړه

نـيغ ولاړســه پـه حقه لار
خپل مخ ځخه لمر جوړکړه

مات کـــړه نـفـرتـونه نور
زړونـــه په هـنـرجـوړ کـړه

چــــم دې خپله وژغـــوره
کلي ته دې ورجـــوړکـــړه

بـــــديـــوســـه غليم ځخه
تل ورته مـحـشـر جــوړکړه

وران کـــړه دبیلتون دیــوال
لوی تري سپین ډګر جوړکړه

مـــــه مـــنـــه دروغ دچـــا
نیـک دې خپل بشر جوړکړه

پـــیـــر دکـــتـــابـــونـــو کړه
پـــوهـــې ســـه قمرجوړکړه

وویـــنـــه ښـــکـــلا هـــرلور
ښـــکـــلـــی دې نظر جـوړکړه

وستـایه خالق(ج) دې خپل
ځـــانـــتـــه دې کوثرجوړکړه

وایـــي حـــمـــیـــدزی ښـکاره
قامـه خـپـل ځیګر جوړکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رونې»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

مــادې دد یـــــدن هـــیـلـــه تل کړي ده
دا هــیـلـــه زړګــي راته ښـــوولــي ده

ستا ســـه ښـایـستـــه په دي نړۍ نسته
ستــا هـــر ویـــنـــا درتـــولو ښکلي ده

مـــخ دي دګـــلاب غخه رنګین ښکاري
هــا کـــوڅـــه  په تابانـدي سپیڅلي ده

نـــه مـنـم غـمـــازه  ســـتـــا خبرې زه
ما دخـــپـــل جـانــان ښکلا لوستلي ده

حــســن یې دټـــولـــو څـــخـــه بـره دئ
هـــســـک ورته لـــمـنـــــه غـوړ ولي ده

وګـــوره سپوږمۍ په مـنـځ کي درز لري
دې ښـــکـــلـــي دګـل ښـــکـلا لـیدلي ده

وایـــمـــه ســـــلام پـه ښایسته جـانـــان
مـــا هـــــره خـــبـــــره یـې مـــنـــلـــي ده

اې دحـــمـــیـدزي دتـــخـــیـــویـال ټاله
تا دخـــپـــل بـــریـــا رســـی نیولې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

ماتــه دي ښــکــلا پــوره څرګنده ده
يار ستــا وفا پـــوره څــرګــنـده ده

څـــوک ســتــا دخبر وسه انکارکوي
هـــرچـــا ته رڼــا پـــوره څرګنده ده

تا موږته ډيوه غوندي احساس راکړ
ستا خــوا کي بـريا پوره څرګنده ده

لـــيــږي چي سـلام پـه نيموشپوتاته
هـــغــه ته رښــتــيــا پوره څرګندده

هــغــه بــريـالی چي ستا خبري کړي
ستاهــره ويــنـــا پـــوره څرګنده ده

مـخ دي دګلاب څخه ډېر ښکلی دی
مــخ کـي دي ځلا پــوره څرګنده ده

زه حمــيـدزی ستا څخه قـربان سمه
ســتـــا مــيــنــه دوا پــوره څرګندده

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

کــښــت دګــلــو مـــو خـــزان راتبا کړی
زمـــوږ هیواد دخپل وجوده څخه ستړی

دکـــلــونـــو څـخـه اور یې زړکي بـل دئ
څـــوبـــې رحـمـــو ځـنـاورور دئ داړلی

غــمـــازن یــې په لـــوګـیـو خوشحالیږي
رقـیــبـانـــو پـــه هـــربـنـد باندي ریبلی

زموږ ګـنــاه څه ده ناحــق وژل کـیــږو
زمـــوږ زلـــمـو کـــفـن په سر باندي تړلی

هـــــره خـــو دښایستـه هـیـــواد تباده
غـلـیـمـاون په مــــرمـیـودی ویـشـتـلی

که دنـــورو څـخـه ښـــه غـواړو کارنه کړو
زموږ هیواد به بي ساه پروت وي لکه مړی

راسئ نور دخپل هیواد په غم غمجن سو
دقـلـم په زور بــې جـــوړ کـــړو نړیـدلی

حـــق یې څـنـــګـــه ور اداکړم نه پوهیږم
حـــمـــیـدزی دخـپـل هیواد یـم پوروړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژونــده یوه موقه دخوشحالۍ راکړه
یــوه شــیــبــه آرام دبد حالۍ راکړه

مه مې زوره دخــپــل هـیـواد په غـم
زما وګل هـیـواد تــه نور ښادۍ راکړه

وبــاســـه دزړو ســـه نــفــرتـو زمونږ
ربه اتـــفـــاق دورور ولـــۍ راکـــړه

سترګې مو دزړه په لیدو ښکلې کړې
یـــو دیـــدن دګــل په زنـــدګۍ راکړه

نـــور مــو دتــقــوا پــه لار بــوزي تـه
مـــونږ تـــه لـوی اجرونه دنیکۍ راکړه

زړه کي مودردونو ته سـکون کښیږده
پــوهــه عــلــم دوړه تـــه ډالۍ راکړه

زمونږ هیواد دبې په شان ښایست لري
بس دسـولې ژونـد اونیکمرغۍ راکړه

نـــه وو حــمــیــدزي ســره رنګین غزل
غـــم وه هــیــرولو ته لـــنـــډۍ راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سيند
* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

ژونـــدون کي درواو  ناروا وو  دونــيا فــرق دی
دښـــکـلـو خــوښـولـو کي جــلا او بلها فرق دی

مـيـيـن په هـــر چا مه ســه ټول وګړي کله ښه دي
دښــو بــــد و کــولــو کي رښتيا او آشنا فــرق دی

دګل او د اغــزي مـنـځ کي دوستي دورايه ښکاري
ګــرانــښــت او په پيرو لو کي دسا او طلا فرق دی

نارې خــو هـرسړی وهې چي ژوند مي درتا زار دی
رښــتــيــا او په درغـــو کي جــدا  او صفافــرق دی

راځه چي ژوند دنيکو دخپل ځانه څخه را پيل کړو
د ژونـــــد په تــېــرولو کي دشــاه اوګـــدا فـــرق دی

غــمــجــن خــوهــرســړی دخـپــل آشنا په بيلدو وي
لــمــبــه هـــر زړګی نـــه وي دژړا اوخــــنـــد فرق دی

راګوره حــمــيــدزيه دماشوم په شان خوشحال يم
دنــورو زړه ازارمـــه کــړه همـــدا زما اوستا فرق دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پـو هـیـږم دژونـدون خوږي تـرخې دي
خـــوښـي نسته دلـتـه واړه انـدیښنې دي

دچـا ژاړي اولادونـــه مـــســـکـیـنـــان دي
دچا ســـتـــرګـــې دفــــراق تکې سرې دي

زمــــوږ هـیـواد کي دکلونو سه جـګړه ده
دښـــارو مــنـځ کـي دجـنـګ بلې لمبې دي

ظالمان دي دفـردیـــو پـه خـــولـه کاندي
دجـــابـــر دمـــظـــلـومـــانـــو سـه ګیلې دي

رحــــم نــــه لــري ګلونه یي خـــزان کـــړه
دقـــاتـــل مـــالـیـار لاســـونـــو کي چړې دي

ورور دورور ســره په جنګ دی نه پوهیږي
جــــوړي کــــړي بــیـــګـــانـو دسیسې دي

دکــــتـــــاب مــــیـــنــــه یـې زړکـي زره نسته
زموږ اوښو منځ کي بې شمېره فاصلې دي

کــــه یـــونـه ســــــو تــــل تر تله به کـړیږو
حـــــمــــیـــــدزیــــه پــه نفاق کي تارکې دي

دخـوب   کول کله ارام راکوي
غــم دهــيــواد راتـــه الهام راکــوي

ديـــتـــمـــانـــو اســـويلي اورمـــه
داژوندون سترړی دئ ابهام راکوي

ويـــنـــه زموږ ورته ارزښته نه لري
غــلــيــم وژنه دســتــرقــام راکوي

دهـــره ځـايـــه خـــنـــدا  ليري تللي
سلګی ژړاوي هـــر ماښام راکـــوي

د وروړو ژلــو څــومـــره غټه ډالۍ
دشـــهـــيـــدګل جـسـد انعام راکوي

راځـــه چي عـــلـــم حميدزيه وکړو
د ژونـــدکـولـــو تـــه دوام راکـــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانړی ځومره ښايسته ده!
هره خوايې رنګينه ده!

موږ په ژوند کله پوهيږو؟
په موږ ځکه توره شپه ده!

علم نه کوو بد کاندو،
ځکه دلته لا جګړه ده

دخپلوی ځخه منکريو
زموږ سه تللي کافله

خپل د ورور په تيغ مړکيږو
دپرديو څه ګيله ده

زموږ وجود کې رحم نسته
قتل کړي مو ډيوه ده

ښونځی مودی سیځلی
هم رنګ بدې مدرسه ده

دنيکونو نومو نوم بدکړ
اخ تياره موميلمنه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلمونه موبد اېسي
خوښه کړې مو وسله ده

دبریا وو څخه تښتو
لویه ماتې زموږ مله ده

بس دی ژوندبه نورشروع کړو
دانړۍ واړه ښایسته ده

کتابونه به راوخلو
دکتاب مخ آینه ده

علم پوهه به کړو غوره
بې علمي په اورپخه

په یوالي کې موګټه،
حمیدزیه زرغونه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library


***************************

نورجنګ ګټلي  يوو موږ سوله غواړو
فقر ځپلي يــوو مــوږ سوله غــواړو

ګلان مووژني هيڅ پرې رحم نه کړي
اورو سـوځلي يوو مــوږسوله غواړو

غـوټۍ مـوګل نه سـوې دجنګ دلاسه
غــمــاز رټـلـي مـــوږ ســـوله غواړو

دکـــلـــو وژنـــي مــــــو ظالم وګـــړي
تيارو تې وړي يوو مــوږ سوله غواړو

زمـوږ په زړو کي يې نــفرت شيندلی
ټوپک خـوار کړي يوو موږسوله غواړو

زمــوږ په وينو يې ماڼۍ جـوړې کـړي
غليم ريبلي يــوو مــوږ ســوله غواړو

دحــمـــيــدزي  درقلم  اوښکې څاڅي
جــنـــګ ژړولي يوو موږ سوله غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلــتــه دوحـشـت تېــغــر
خـوردی هیڅ تولیږي نه

ورکه مـو تــرمـنـځ مینه
عـقـل مــوخـپـلـیـږي نه

اورمــو پــه مغزوکي دی
بل دی هیڅ مـړکیږي نه

ویـنــه مــو اوبه غونـدي
مـفـتـه ده ګــرانیږي نــه

ډارمـــو دوجــوده دی
سترګې مـوخپلیږي نــه

وینه موځبیبنی بنامار
وږی دی مـــړیـــږي نــه

ورک رانـــه قـلـم کتاب
زخـم مو جـوړیږي نــه

صـبـره حمیدزیه کـړه
غـم درسه ستنیږي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورســتــه پاتـه دنړۍ يـو
دځـنځيـرماتې کړۍ يـو

سمندر منـځ کې ډوبيږو
غــورځيدلي دبيړۍ يـو

ديـوبل څخه نـفرت کړو
دغــمــونــو دپـيـړۍ يـو

پــوهه نــکړوپه اولادمـو
لاغوښتونکي دماڼــۍ يـو

تــاريـخـونــه مــوهېرکـړي
اوس ښاغلي په پګړۍ يو

دښــمـنــان راباندي خاندي
تــوپــان وړي څو وړۍ يـو

ديـــوبـــل څـــخــه لـــېـري
دګــريــوان څيري تنۍ يـو

حـميـدزيه ارزښت مند يـو
حـمـاسـي مستې لنډۍ يـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

روڼ»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

مــوږ دګــلــونـــو نـــه ازار اخـیـسـتـی
دبـــدو کــــړونو مــو بـــازار اخیـسـتی

وخـــت ســـره لـــوبــې ښه په نره کوو
دخـــپـلــه ژونـــده مـــو قرار اخیستی

دخـــپـــل هېواد مـــو ورانول عدت دي
دورور پــه ویــنــه مـــو تالار  اخیستی

هسک کي سپوږمۍ موپه لیدو شرمیږي
دمـــیـــنـــي لـیـک مـو د ریبار اخیستی

دژونـــد کـــول مـــو لازده کـړي نه دي
دځـــان وژلـــــو تــه مــو دار اخیستی

دخــپــل هــیـــواد ودانـــو ل نه غواړو
بـــدکوو ژونـــد مـــو دچینار اخیستی

په خـــپـــل کلتور باندي ملنډي وهـــو
ظــالــم اغـیــار زمـــوږ اقرار اخیستی
دجـــنــــګ غوښتنه ښه په زغرده کوو
بد یوو لاســـو کي مـــو انګاراخیستی
دخـــپـــل زړګي دصـــبـــرولـــو په پار
حمیدزي سـتـرګـو څخه کـار اخیستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رونړ»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»سیند

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

ستـا دستایلو سه منکر څنګه سي
دخـپـل وجود څخه بهر څنګه سي

دسـتـرګـو منځ کي درازو کمی دی
پښمان دهـرڅه سه بشر څنګه سي

ړانـده وګړي دي سپوږمۍ نه ویني
رڼا کي ورک خـلـګ دلـمـرڅنګه سي

هــره زره ســتـــا صــفـتــونـه کوي
دعقل شتون کي بي خبر څنګه سي

درتــولــو غــوره ستا وینا چي لولي
دها وګــړو څـوک لاستر څنګه سي

که نیغه لار بانـدي مزل وکړي څـوک
هـغـه خـپـه به پـه محشر څنګه سي

حــمــیــدزی بــدو څخه کــرکــه کوم
بدو کي هسک دسړي سـر څنګه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library




# دلیکوال لنډه پیژندنه!

محمودحمیدزی په انګریزي(MahmoodHamidzai) دخیرالله زوی،دحاجي محمداقبال لمسی او په ختنه اڅکزی دئ . نوموړی د 1374لیږدیز لمریز کال دثور دمیاشتې په څلورمه نېټه چې د 1995زیږدیز کال دافریل دمیاشتې 24نیټې سرسمون خوري دکندهار ولایت دژړی ولسوالی په سنګحصار کلي کې زیږیدلی دئ. حمیدزي دیني زده کړې دخپل کلي دملا امامانوځخه لوستي دي.

لومړنی ښوونځی یې په سنګحصار لېسه. منځنی ښوونځی یې په قاضي عبدالمجید منځنی ښوونځی کې لوستی او په کال 1396لیږدیز لمریزکال کې دژړی ولسوالی داسعدسوري لېسې څخه فارغ اودمکتب دوره یې پای ته رسولې ده.

حمیدزي:نیمه عالي زده کړې د ډاکټر مامون طاهري روغتیا علومو انستیتوت دنرسنګ په څانګه کې کړې او دیاد انستیتوت څخه په کال 1399لیږدیز لمریز کال کې دپنځلسم پاس په سویه فارغ دئ



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**